مهالنۍ

# هځوب

ټولنیزه او فرهنګي مجله

HAZOB



١

# هڅوب
مهالنۍ

کال: ۲۰۲۳
گڼه: لومړۍ
نېټه: د ۲۰۲۳ کال د فبروري میاشت

## مؤسس او د امتیاز خاوند:

مسؤل مدیر: محمود سعید
مرستیال: مجیب الرحمن احساس
متن اېډېټور: قریب الرحمن شهاب
عکاس: محمد عمران

کمپوز او ډیزاین: زیار خان نوري

برېښنالیک:
info@hazob.de
magazine@hazob.de

پته:
برلین جرمني

برېښنالیک:
magazine@hazob.de

هڅوب په ټولنېزو رسنیو کې :

www.hazob.de

بیه: ۵ یورو

## سریزه
۱ د یوه نوي پیل پر لور لومړنی ګام
.../ د هڅوب کاري ډله

## هڅوب څه کول غواړي؟
۳ ... چې دلته خواره واره افغانان سره راټول
کړو .../ د هڅوب کاري ډله

## ولې هڅوب؟
۲ د هڅوب نوم او شالید
.../ د هڅوب کاري ډله

## زده کړه
۴ په بهرنیو هیوادونو کې په مورنۍ ژبه د زده
کړو ارزښت.../ علم ګل سحر

## کډوالي
۷ فرصت که ننګونه/ مجیب الرحمن احساس

## د کورنیو ستونزو عوامل
۱۰ ... په جرمني کې مېشت افغانان له ځینو
کورنیو ستونزو سره مخامخ دي.
لومړۍ برخه/ محب زغم

## زموږ توقعات
۱۲ په جرمني کې ژوند، زموږ توقعات، ستونزې
او حقیقتونه / شبیر سلیمي

## د افغانانو ستونزې
۱۴ افغان پناه غوښونکي له کومې جدي ستونزې
سره مخ دي؟ /اجمل تورمان

## لیکنه
۱۶ د سندونو رسمي کول/ هند بوک
جرمني پښتو

## ژب زده کړه
۱۹ ژبه څنګه ښه زده کولای شو؟ / زیار خان نوري

## درک کول
۲۳ پردۍ ځمکه، وطن / نصیر احمد

## د ننګونو تر شا برياوې
۲۶ د بریالیو خلکو تجربې/ قریب الرحمن شهاب

## غلطې مشورې
۲۹ همدا تېروتنه ژو ند ډېر ترخوي./ عاصم
مایار

## پښتو وېبپاڼې او کاریالونه
۳۱ په جرمني کې لومړۍ ورځې

## ژبني مهارتونه او بریا
۱۵ ژبني مهارتونه په بریا کې څه رول لري
/ جانداد جهاني

## Was ist HAZOB?
۴۰ Was ist HAZOB? | Der Hintergrund
von Hazob. \ Hazob

# پر لوړ لومړنی ګام د یوه نوي پیل

په ډېرې خوښۍ، په جرمني کې د افغان کډوالو لپاره د پښتو مجلې (هڅوب) لومړۍ ګڼه وړاندې کوو.

(هڅوب) په جرمني کې د زرګونو افغانانو د یوه لوی ارمان د پوره کېدو پر لوري لومړنی ګام دی او که خدای کول دلته به د یوه روښانه مسیر په توګه خورو ورو هڅو ته جهت ورکوي.

ښايي له دې وړاندې هم د یوه ورته اقدام هڅه شوې وي، چې موږ ورته د قدر په سترګه ګورو، خو هڅوب به په جرمني کې د یوه پیاوړي فرهنګي ادرس په توګه هڅه وکړي، چې دلته مېشت ټول فرهنګیان او د قلم خاوندان پرڅان راټول او پر یوه باوري چتر بدل شي.

ممکن ځينو ته پوښتنه پیدا شي چې د ټکنالوژۍ او ټولنیزو رسنیو په اوسني چټک عصر کې د یوې چاپي رسنۍ اړتیا څه وه ! او څومره به بریالۍ وي؟

ځواب روښانه دی ؛هڅوب کوم سوداګریز بنسټ نه دی، چې موږ یې ګټې ته کښېنو او یایې د ماتې ویره ولرو، بلکې دا دلته د میشتو افغانانو لپاره د خدمت یوه رضاکارانه هڅه ده، چې هدف یې د هر افغان کور ته د هغوی په مورنۍ ژبه د یوې داسې مجلې رسول دي ، چې نه یوازې د لوست تنده پرې ماتیږي، بلکې له خپل هیواد، کلتور او وطني رنګونو سره یې نږدې ساتي او ټول هغه مسایل ورته وړاندې کوي چې دلته د هر افغان کډوال اړتیا ده.

موږ د دې مجلې په مرسته غواړو د افغان کډوالو تر خپل منځ او بیا له جرمني ټولنې سره یو پل جوړ کړو او د نظرونو د تبادلې او تفاهم لپاره یو پلیټ فارم رامنځته کړو.

جرمني ته د راتلونکو افغان کډوالو شمېر په پرله پسې ډول مخ په ډېرېدو دی او دا مهمه ده چې دوی ته داسې سرچینې برابرې او فرصتونه چمتو شي ، ترڅو په نوې ټولنه کې د دوی ادغام او ژوند اسانه کړي.

په جرمني کې افغان کډوال د ژبې د خنډونو، کلتوري توپیرونو او په یوې نوې ټولنه کې د پرمخ یون په برخه کې له ځانګړو ننګونو سره مخ دي. دوی همدا شان په خپله مورنۍ ژبه کتابونو ته لاسرسی نه لري او له ټولو توپیرونو سره ځان بېګانه او یوازې شوي احساسوي. د دوی په خپله ژبه یوه ټولنیزه او کلتوري مجله چې په ځانګړي ډول په جرمني کې د افغان کډوالولپاره طرحه شوې ده، د دې کسانو لپاره د وطني تړاو، مالوماتو او اړیکو یوه ارزښتناکه سرچینه کیدای شي.دا مجله له دوی سره مرسته کوي، چې دوی د نوي وطن کلتور او ټولنه ښه وپېژني او له خپل کلتور او ټولنې سره یې وتړي.

د یوې چاپ شوې مجلې فزیکي رابطه، په ځانګړې توګه هغه چې په جرمني کې په پښتو ژبه د افغان کډوالو لپاره خپرېږي، ځانګړې اهمیت لري. په جرمني کې د ډېرو افغان کډوالو لپاره، د پښتو ژبې د کتابونو نشتوالی یوه ستره ستونزه ده او لوستو افغانانو ته دا نیمګړتیا خورا ګرانه پرېوزي.

له همدې کبله په خپله ژبه، په مجله کې له پيژندل شویو کلمو او کیسو سره، د هوساینې او یادونو تړاو دوی ته ښه احساس ورکولی شي.

دا مجله په مهالني ډول خپرېږي او هره ګڼه یې په جرمني کې د افغان کډوالو د ژوند اړوند بېلابېل موضوعات په ځان کې رانغاړي. د مجلې هره ګڼه به د مقالو، مرکو، مالوماتي څېړکیو او پېژندلیکونو یو ترکیب ولري، چې په جرمني کې د افغان کډوالو د ژوند بیلابیل اړخونه روښانوي. په موضوعاتو کې کلتوري او ټولنیز دودونه هم شامل دي.

په خپله ژبه لوستل او د خپل کلتور او اصل د پېژندلو فرصت د افغان کډوالو لپاره خورا مهم دی، څو په خپل نوي کور کې د پردیتوب احساس ونه کړي او له خپل اصل څخه بیخي پردي نه شي. له همدې کبله په دې مجله کې ټول محتویات په پښتو او ځینې یې په جرمني ژبه خپرېږي تر څو ډاډ ترلاسه شي،چې د افغان کډوالو د ژبې د مهارتونو په پام کې نیولو سره ډېر کسان ورڅخه ګټه واخستلای شي.

هڅوب مجله به افغان کډوالو ته د جرمني ژبې د مهارتونو د لوړولو او په جرمني کې د ورځني ژوند د ستونزو د حلولو لپاره هم ځینې موضوعات وړاندې کوي. په جرمني کې د بریالیو افغان کډوالو د پېژندنې او په جرمني کې د هغوی د ژوند د کیسې په وړاندې کولو سره، دا مجله د مثبت رول ماډلونو په رامینځته کولو کې مرسته کولای او په ټولنه کې ادغام ته وده ورکولای شي. موږ همدا شان غواړو د دې مجلې په خپرولو سره، په جرمني کې میشتو افغان کډوالو ته یو غږ ورکړو او د دوی د خپلمنځي همغږۍ د یوه دریځ په توګه یې وکاروو. له همدې کبله له ټولو درنو لوستونکو هیله کیږي چې خپل نظرونه او وړاندیزونه له موږ سره شریک کړي. د یادونې وړ ده چې د مجلې د خپراوي هڅه رضاکارانه ده او چلوونکي یې هېڅ ډول مادي امتیاز او یا له کوم سیاسي بنسټ سره تړاو نه لري. د مجلې د ډېرې کمې بیې پیسې به د بلې ګڼې د چاپ لپاره کارول کیږي.

د هڅوب د نورو نوښتونو او هڅو په اړه بشپړ مالومات د هڅوب پر وېبسایټ (hazob.de) ) لوستلای شئ.

سوکاله اوسئ

د هڅوب کاري ډله

# هڅوب ولې

په انساني ټولنو کې د وګړو تر منځ خپل منځي اړیکې او د هغو ډول د هماغه ټولنې د پایښت او ودې بنسټ جوړوي، هره ټولنه ځانګړي ارزښتونه، دودونه او د پېژندنې شاخصونه لري او په همدې محور یې وګړي یو له بل سره اړیکې پالي، همدا پالنه او راشه درشه د یوې ټولنې د وجود رېښې ساتي او پیاوړې کوي.

کله چې د یوې ټولنې یوه برخه د افرادو په بڼه یوه متفاوت چاپېریال ته ننوزي، نو دې افرادو ته ستونزمنه ده، چې هم د خپلې اصلي ټولنې ارزښتونه خوندي وساتي او هم په نوې ټولنه کې د ادغام په نوم د یوې ټولنې پر وضع شویو قواعدو ځان برابر کړي.

هغوی چې نسبتا په منځني عمر کې یوې نااشنا ټولنې ته ور ګډېږي، ښايي خپل تېر ثقافت او کلتور یې تر ډېره په یاد پاتې شي؛ خو د کوچنیانو یا راتلونکو نسلونو په اړه به بیا دا باور سخت وي، ځکه نو اړتیا شته چې په یوه متفاوته ټولنه کې هغه افراد چې اصلي ژبه، کلتور، فکر، دین او مذهب یې سره یو دي د یوه جوړښت په توګه د همغږۍ ادرس ولري، چې په مرسته یې د قوت حس وکړي، له اسانتیاوو ګټه واخیستلی شي، په ستونزو کې یې مرسته وشي او د ادغام بهیر یې هم چټک او اسانه شي.

دلته به بیا د جلا وطنۍ د تعریف اړتیا نه وي؛ خو د افغانانو د جلا وطنۍ تعریف له نورو سره یو ستر توپیر لری، هغه دا چې له بده مرغه د تېرو څو لسیزو جګړو له ډېرو افغانانو دا چانس واخیست چې له خپلو هیلو سره بېرته وطن ته وګرځي او هلته له سره ژوند پیل کړي او له همدې امله دې اوږدمهاله جلاوطنۍ ډېرو افغان انسانانو ته د یوه باثباته ژوند د جوړولو وخت ورنه کړ.

که څه هم له پخوا په جرمني کې د کډوالو لپاره د ادغام ځانګړي پروګرامونه شته، خو دا باید هېره نه کړو چې ډېر افغانان د خپلو ځانګړو دودونو، کلتور، ځانګړنو او ستونزو له کبله د ادغام له دې پروګرامونو سره بشپړه ملتیا نه شي کولای. له بل پلوه د جرمن‌مېشته افغانانو خپل‌منځي اړیکې هم هغومره پیاوړې نه دي لکه څومره چې باید وي او د دې کار په لاملونو کې، په بېلابېلو وختونو کې د مختلفو سیاسي او ایډیالوژیکو فکرونو لرونکو کسانو راتګ او یا هم دلته د راتلونکو کسانو د راتګ د نېټو تر منځ اوږد واټن وي. په دې ډول د افغانانو یوه ستره برخه له دواړو ټولنو بېله پاته شوې او د یو ځای کېدلو هڅې یې یا نه دي شوې او یا هم له ناکامۍ سره مخ شوې دي. د دې کار لاملونه هم اوږده بحث ته اړتیا لري. د دې اړیکو د ساتلو او پیاوړي کولو یو بل دلیل د ټولنیزو ستونزو او ننګونو پر وړاندې یو بل ته اوږه ورکول او د جلاوطنۍ د احساس راکمول په ګوته کولای شو. په دې ډول سلګونه نور دلایل شته چې موږ یې د یوه داسې خوځښت رامنځته کولو ته هڅولي او یا اړ کړي یو چې په وسیله یې د جرمن‌مېشتو افغانانو تر منځ د اړیکو یو پل رامنځته شي او په رسنیز، کلتوري او ټولنیزو برخو کې د یوه ګډ دریځ په توګه کار ترې واخستل شي.

## د هڅوب شالید

د جرمن‌مېشتو افغانانو لپاره د یوه ګډ دریځ رامنځته کول له لویه سره اړتیا ګڼل کېده او د رامنځته کوونکو تر منځ یې ځینې وخت په اړه نارسمي بحثونه شوي وو. د هڅوب لومړۍ غونډه د ۲۰۲۲ کال د سپتمبر میاشتې په لومړۍ نېټه وشوه. په غونډه کې د افغانانو لپاره د یوه ګډ دریځ د رامنځ ته کېدو په اړتیا، ستونزو او فرصتونو خبرې وشوې او هوډ وشو چې داسې یو دریځ به رامنځ ته کیږي، څو په مرسته یې د افغانانو تر منځ د همغږۍ چارې سمبال شي او افغانان د یوې فعالې کتلې په توګه د ټولنې برخه شي. له هغه مهاله د هڅوب د جوړښت، فعالیتونو، ځانګو او جزئیاتو په اړه پرله‌پسې ناستې او هڅې کیږي.

## د هڅوب نوم

د دې دریځ لپاره د «هڅوب - HAZOB» نوم غوره شوی دی.

(هڅوب) په جرمني کې د افغانانو د پیوستون باوري چتر دی چې موخه یې دلته د خورو ورو هیوادوالو وصل ساتل دي، د نومونې فلسفه یې هم داده چې افغانان د خپل کلتور او ثقافت پر بنسټ متمایز شي، استاد غضنفر هڅوب سوچه او نسبتا نوې پښتو کلمه ښيي او لومړی وړاندیز یې هم د ارواښاد وزیر محمدګل خان له لوري بولي، چې د تورو د مجموعي مفهوم یې د ثقافت او کلتور پر بنسټ د ولسونو ښه پیژندنه ده.

# هڅوب څه کول غواړي

جرمني له هغو اروپايي هيوادونو يو دی چې له اوږدې مودې راهيسې پکې زرګونه افغانان مېشت دي او په ۲۰۲۲م کال کې دا شمير تر ټولو زيات شو او لاهم د زياتېدو په حال کې دي، خو هغه ډول چې ورته اړتيا ده، د دوی د انسجام او همغږۍ لپاره کوم ځانګړی ادرس نشته. په ډيری اروپايي هيوادونو او ځانګړي ډول جرمني کې د ډيری نورو هيوادونو وګړي د خپلو ستونزو د حل او نورو ګډو موضوعاتو لپاره وړې او سترې ټولنې لري او کله چې يې کوم وګړی له ستونزې سره مخ کيږي، نو په ډير ساده ډول ورته د حل لاره پيدا کوي او لاسنيوي يې کوي، يا له همدې لارې په ټولنيز ژوند، اقتصاد، پرمختګ او سياست کې رول او ان خپل ځای لري؛ خو له بده مرغه په جرمني کې مېشت افغانان لکه څنګه يې چې دلته شمېر ډير دی ستونزې يې هم ډيرې دي؛ خو د همغږۍ او را ټوليدنې کوم ځانګړی ادرس نه لري او که کله يې کوم ادرس رامنځته کړی يا يې د رامنځ ته کېدو هڅه شوې تر يوه ځانګړي ايالته محدود شوی يا هم په نيمه لاره کې بيرته له منځه تللی.




له همدې امله دلته مېشت افغانان چې کله له کومې ستونزې سره مخ کيږي يا يې په انفرادي ډول د حل لپاره هڅه کوي او ياهم اړ کيږي چې د نورو هيوادونو وګړو ته د مرستې لاس وغځوي، چې له بده مرغه ډير ځله يې پايلې منفي او کله کله هم ډيرې دردوونکې وي.

موږ همدې ټولو ستونزو، اړتياوو او ننګونو ته په پام دا ځل هوډ کړی چې، دلته خواره واره افغانان سره راټول کړو، يو واحد او په جرمني کې افغان ادرس رامنځ ته کړو او له بيلابيلو ستونزو سره د مخامخ افغانانو لاسنيوی وکړو.

ښايي دا لاره ستونزمنه وي، خو موږ به د مخ په وړاندې تګ هڅه کوو او دې سترې موخې ته د رسېدو لپاره به خپل توان کاروو. ښکاره خبره ده چې په دې برخه کې د هر جرمن ميشتي افغان همکاري زموږ لپاره مهمه ده او موږ په همدې هيله متې رانغښتې دي؛ څکه نو موږ د خپلو هيواد والو چوپړ د ځان وياړ بولو او مخ په وړاندې به ځو. يا هو!

ماته دا نصیحت کړی پاچا خان دی
څوک چې خپله ژبه سپکه ګڼي، سپک شي
دغه ګفت د داسې لوی ملنګ د خولې دی
څوک چې خپله ژبه ورکه کړي، نو ورک شي

# په بهرنیو هیوادونو کې په مورنۍ ژبه د زده کړو ارزښت او لارې چارې




د مورنۍ ژبې د ارزښت په اړه ډیرې لیکنې او خبرې شوې دي که په لنډ ډول ووایو هر انسان له خپلې مورنۍ ژبې سره عاطفي پیوند لري ماشوم د خپل چاپیریال د اشیاو درک د مورنۍ ژبې په وسیله کوي، د لغاتو ذخیره یې په مورنۍ ژبه وي. موږ خوبونه پخپله مورنۍ ژبه وینو فکر پخپله مورنۍ ژبه کوو، مورنۍ ژبه تر هویتي هغه زیاتره علمي اړخ لري کولی شو ووایو چې له مورنۍ ژبې پردی والی له ځانه پردیوالی دی.
ځیرنو ښودلې که ماشوم ته پخپله مورنۍ ژبه زده کړې ورکړل شي ذهنیت یې ښه وده کوي او په روحی سلامتیا یې زیات اغیز لري، مورنۍ ژبه د ماشوم پر ځان باور زیاتوي او پخپل فرهنګي هویت ویاړ یې شخصیت ته لا تبارز ورکوي دغه راز په کورنۍ کې د عواطفو او د ماشوم او میندو پلرونو ترمنځ د عاطفي اړیکو په پیاوړتیا کې مهم رول لري. هغوی چې له مورنۍ ژبې محروم ساتل کیږي له پرمختګه پاتې کیږي هغه مفاهیم چې په ماشومتوب کې یې له خپلې مور څخه اوریدلي که په بله ژبه ورته ښودل کیږي دومره هغه ته د درک وړ نه وي څومره چې د خپلې مورنۍ ژبې مفاهیم ورته د دقیق درک وړ وي ، ځکه په دوهمه ژبه د دې مفاهیمو را اړول په هر عمر کې ستونزمن وي. یونسکو وایي هغوی چې نه شي کولی پخپله مورنۍ ژبه خبرې وکړي، ولولي او ولیکي نالوستي ګڼل کیږي، نو دا پر موږ لازمه ده چې خپلو ماشومانو ته چې هر ځای وي او په هر ډول شرایطو کې په مورنۍ ژبه د زده کړو زمینې برابرې کړو
له بده مرغه باید ووایو چې افغان ماشومانو ته په مورنۍ ژبه د زده کړو زمینې هم په هیواد کې دننه محدودې دي او ډیری ماشومان پخپله مورنۍ ژبه له زده کړو بې برخې دي او له هیواده بهر خو واقعاً دا مسله د ډیرې اندیښنې وړ ده.

په هیواد کې دننه په پلازمینه کابل او زیاترو ولایتونو په تیره شمالي او جنوب لویدیځو ولایتونو کې اکثریت پښتو ژبي ماشومان په بله ژبه زده کړې کوي همدغه تبعیض د ازبکي ژبې له ماشومانو سره هم روان دی. په پښتونخوا کې خو پښتو ژبه هم له دفتر وتلې هم له مکتبه. په دې برخو کې دمخه هم بحثونه شوي او سیمینارونه جوړ شوي دي. را به شو په بهرنیو هیوادونو کې د مورنۍ ژبې د زده کړو مسلې ته.
له بده مرغه باید ووایو په بهر کې په تیره اروپا کې د مورنۍ ژبې د ساتلو لپاره اړوند مسوول ارګانونه هیڅ ډول پلان او پالیسي نه لري. دلته کولی شو ووایو چې ټول ماشومان په مورنۍ ژبه له زده کړو بې برخې دي او په ځینو کورنیو کې خو له منځه تللې یا هم د له منځه تللو په حال کې دي.
په بهرنیو هیوادونو کې د مورنۍ ژبې په وړاندې زیاتې ستونزې شته، دلته زموږ ماشومان هم زده کړې په نورو ژبو کوي او هم خپل ټول وخت د نورو هیوادونو له ماشومانو سره تیروي. پخپله ژبه نه څه اوري نه څه لولي، خو په نورو ژبو هر څه ورته مهیا دي.
بل خوا دلته هم زموږ ځینې ګاونډي هیوادونه کوښښ کوي افغانان په فرهنګي لحاظ تر خپلې اغیزې لاندې وساتي. څه موده دمخه مې په آلمان کې د یوه ګاونډي هیواد د سفارت د فرهنګي چارو له مسوول سره خبرې کولې، هلته پوه شوم چې نور څومره په دقت او همغږۍ سره کار کوي او دلته هم لا موږ ته غله دي خو موږ څومره بې غوره یو.
ځینو وطنپالو افغانانو پخپلو هڅو سره په ځینو اروپایي هیوادونو کې افغان ماشومانو ته په مورنۍ ژبه د تدریس کار پیل کړی دی، چې د ډیرې زیاتې ستاینې وړ دی، خو دا ډیر کم دی او نه شي کولای ټولو افغان ماشومانو ته ورسیږي،نو څه کول په کار دي؟
راځئ په دې اړه پراخ بحثونه وکړو د حل لارې ومومو او د عملي کیدو لپاره یې لاس په کار شو.
ځینې وړاندیزونه او مشورې:
په بهرنیو هیوادونو کې اوسیدونکو ماشومانو لپاره د خپلې مورنۍ ژبې ساتل ډیر ارزښتمن دي
په بهر کې زموږ ماشومان په بهرنیو ژبو زده کړې کوي د اوسیدو په سیمه کې هم په پردۍ ژبه خبرې کوي ځینې خو لا په کورونو کې هم د هماغه هیواد ژبه پخپلو منځو کې وایي چې د وخت په تیریدو سره یې مورنۍ ژبه یو مخ هیریږي.

په بهرنیو هیوادونو کې باید د مورنۍ ژبې د تدریس یو ځانګړی نصاب رامنځ ته شي د اوسنیو درسي کتابونو تر څنګ لازمه ده د بهر میشتو افغان ماشومانو لپاره نوي درسي کتابونه برابر شي.

که د اوس لپاره په ځینو بهرنیو هیوادونو کې د افغانانو لپاره د ځانګړو ښوونځیو جوړول ستونزمن وي کیدای شي له موجودو امکاناتو څخه ګټه واخیستل شي. د مثال په توګه په زیاترو ښارونو کې افغانان خپل جوماتونه لري په کار ده د نورو دیني زده کړو تر څنګ چې هغه هم باید په مورنۍ ژبه وي همدا درسي کتابونه هم تدریس شي. د دې لپاره کیدای شي د جوماتونو ملا امامانو او بهرمیشتو افغانانو لپاره حق الزحمه هم په پام کې ونیول شي.

دغه راز بهر میشتي افغانان کولای شي پخپلو سیمو کې د فرهنګي ټولنو په جوړولو سره د همدې ټولنو له لارې د حکومت په مرسته په فارغ وخت کې د خپلو ماشومانو لپاره په مورنۍ ژبه د تدریس زمینه برابره کړي.

په ځینو هیوادونو کې افغانانو خپل ټلویزیونونه او راډیوګانې جوړې کړې دي باید د مورنۍ ژبې د زده کړې په برخه کې د هغوی له امکاناتو څخه هم ګټه پورته شي.

باید په افغانستان کې د ماشومانو لپاره لیکل شوي کتابونه واخیستل شي او په بهر کې د بهر میشتو افغانانو د فرهنګي ټولنو له لارې افغان ماشومانو ته وړیا وویشل شي.

د فرهنګي ټولنو او نورو اړوندو ادارو له لارې دې د کوربه هیوادونو په ژبو د لیکل شویو کتابونو د ژباړې بهیر په پراخه کچه پیل شي.

په اوس وخت کې زیاتره ماشومان په کمپیوټري ګیمونو خپل وخت تیروي او دا ګیمونه ټول په نورو ژبو دي ، په کار ده دغه ګیمونه زموږ پخپلو ژبو پښتو او دري وژباړل شي او د کورنیو مشران یوازې هماغه ګیمونه د خپلو ماشومانو لپاره وپیري.

بهرمیشتي افغانان په دې برخه کې تر ټولو مهم رول لري. که دوی دې ته پاملرنه وکړي اولادونه به یې خپله ژبه هیڅ وخت او هیچیري هیره نه کړي. له بده مرغه باید ووایو چې ځینې کورنۍ شته چې په دې ویاړي اولادونه یې پخپلو مینځو کې بهرنۍ ژبه وایي او ویاړي چې اولادونه یې په بهرنیو ژبو ښه پوهیږي او لیکنې هم وربانديې کوي، خو دې ته یې پام نه وي چې خپله ژبه یې هیره شوې او یا د هیریدو په حال کې ده.



**استاد الفت فرمایي:**

نورې ژبې زده کول که لوی کمال دی
خپله ژبه هیرول بې کمالي ده

د نورو ژبو زده کول تل ضرور دي په تیره اروپایي ژبې، نه یوازې دلته د میشتو افغانانو د کار، زده کړو او ژوند لپاره ضروري دي ، بلکې د دې لپاره هم مهمې دي چې زموږ ځوانان وکولای شي له دې ژبو څخه ګټور اثار خپلې ژبې ته را وژباړي. ویل کیږي کله چې په چکوسلواکیا کې شوروي پلوی رژیم رامنځ ته شو د دې هیواد هغه روشنفکران چې له نوي دولت سره مخالف و د لویدیځې اروپا هیوادونو ته مهاجر شول خو له مهاجرت سره سم یې ټولنې جوړې کړې نه یوازې په کوربه هیوادونو کې یې خپله ژبه او فرهنګ وساته او وپاله، بلکې خپلې ګټل شوې پیسې به یې د خپل هیواد د ماشوماتو د تعلیم لپاره چکوسلواکیا ته استولې. دوی د رژیم مخالفت وکړ خو زموږ د ځینو مهاجرو افغانانو غوندې یې د خپل هیواد او خپلو خلکو مخالفت ونه کړ.

مورنۍ ژبې ته تر ټولو دمخه باید میندې او پلرونه زیاته پاملرنه وکړي که میندې او پلرونه ورته توجه ونه کړي په دې برخه کې ډیرې هلې ځلې په اوبو لاهو کیدای شي.

په کابل کې زموږ یو شمیر ملګرو په مورنۍ ژبه د ښوونځیو د جوړولو لپاره کار او مبارزه کوله ډیرې بریاوې یې هم لرلې، خو د دوی لویه ستونزه زیاتره وخت له پښتنې مور او پښتانه پلار سره وه. مقامات به راضي شول، ښوونکي به پیدا شول او کتابونه به هم په ډیرو ستونزو پیدا شول، خو د شاګر د پلار به دې مخې ته ودریده ویل به یې زما لور یا زوی دې په مورنۍ ژبه زده کړې نه کوي. تر دې نو لویه بې غوري به چیري وي چې پلرونه او میندې دې خپل اولاد په زور له ځانه لیرې کړي. جګړې او مهاجرتونو موږ له خپل وطنه پردي کړي یو، پیژنم داسې افغانان چې د نورو هیوادونو د پرمختګونو په یادولو سره پخپل وطن پورې خاندې. په نورو ژبو د تعلیم د پراخې زمینې او ډیرو موادو د شته والي په یادولو سره پخپله ژبه ملنډې وهي په داسې حال کې به یې نو اولادونه څرنګه له خپل وطن او ژبې سره پاتي شي. هغوی چې په بل هیواد کې را لوی شوي او روزل شوي او پخپل وطن کې جګړې او وحشت ویني او بیا له خپلو مشرانو دا ډول خبرې هم واوري له خپل وطن او خپلې ژبې یې کر که کیږي.

د مشرانو خو د افغانستان د سولې طلایي کلونه په یاد دي هغه وختونه یې یاد دي چې همدا بهرنیان به زموږ د ګران هیواد سیل ته راتلل او زموږ ژبه به یې زده کوله. هغه وخت موږ هم د ژوند په ټولو برخو کې یوه معیار ته رسیدلي وو، موږ یو هوسا او نسبتآ بسیا ملت و. خپلو اولادونه ته باید هماغه طلایي دورې وریادې کړو او دا ورته ووایو چې له موږ څخه خو توپې شوه تاسې د هماغې خاورې بچیان یاست، دلته زده کړې وکړئ، عالمان شئ د دې ځای ژبې زده کړئ خو خپله ژبه مه هیروئ د دې خلکو د پرمختګ راز خپلو خلکو ته وواياست د دې هیوادونو دا رازونه را پیدا کړئ چې څنګه له تیارو رڼا ته راووتل

د دوی کتابونه پخپله ژبه خپلو خلکو ته ترجمه کړئ. خپل خلک هم درسره پوه کړئ د وطن بایللی عظمت تاسې بیرته را ژوندی کړئ. د بهر میشتو افغانانو کورنیو ته په کار ده خپلو اولادونو ته د خپلې ژبې ارزښت څرګند کړي. پخپلو کورونو کې منظم کتابتونونه ولري او له وطن څخه نوي چاپ شوي اثار راوغواړي له خپلو اولادونو سره یې په کور کې تدریس کړي.

حتمي نه ده موږ د اروپا په یوه ښار یا یوه کلي کې څو تنه لیکوال لرو بیا هلته فرهنګي ټولنه جوړه کړو. که په کومه سیمه کې د افغانانو دوه کورونه هم وي دوی دې پخپل منځ کې اتحادیه یا ټولنه جوړه کړي. یوه بله تجربه چې ممکن ډیرو ته ناشونې وي خو دلته یې یادونه ضروري بریښي داده چې ځینو بهرمیشتو افغانانو د دې لپاره چې اولادونه یې خپله ژبه هیره نه کړي او په بله ټولنه کې بیخي تري ورک نه شي د خپل اوسیدو سیمه یا آن هیواد بدل کړی دی. زه داسې افغانان پیژنم چې یوازې په همدې خاطر یې له یوه هیواده بل هیواد ته کډه کړې ده او ښه پایله یې هم تر لاسه کړې ده. اولادونو یې په یوه هیواد کې زده کړې وکړې بهرني ملګري او دوستان یې پیدا کړل چې تل به له هغوی سره په اړیکه کې و او تل به یې بهرنۍ ژبه په خوله وه. خو چې بل محیط ته ولاړل بیرته مجبور شول خپله ژبه یې خپله کړه.

موږ ته په کار ده د خپلې ژبې د ساتلو لپاره له ټولو امکاناتو کار واخلو. موږ په کابل کې د مصور بنسټ په نوم د ماشو ادبیاتو یوه ټولنه لرله د دې بنسټ له خوا د پنځوسو په شاوخوا کې د لکونو په تیراژ کتابونه چاپ او وویشل شول. په دې ټولنه کې به موږ د ماشومانو لپاره د کتابونو د چاپولو په برخه کې بحثونه کول ځینو دوستانو د ماشومانو لپاره پر کتابونو او لیکنو د کره کتنې غونډې جوړولې چې ډیره ښه پایله یې لرله.

په بهرنیو هیوادونو کې زموږ د وطن ډیر نامتو استادان او عالمان میشت دي، دوی او دلته زموږ نور وطنوال کولی شي د ماشومانو لپاره دا ډول ټولنې را منځ ته کړي. دوی کولی شي په اوونۍ یا میاشت کې یو ځل سره کیني او په دې مسایلو بحث وکړي او عملي لارې چارې وسنجوي او عملي کړي. دغه راز موږ په کابل او ځینو ولایتونو کې د میرمن کلتوري ټولنیز بهیر په نوم ټولنې درلودې چې یوه څانګه یې په آلمان کې هم وه.

افغان میرمنو په خپله ټولنه کې زیاتره وخت د ماشومانو پر کتابونو او زده کړو بحثونه کول او د نورو کتابونو تر څنګ یې د ماشومانو لپاره لسګونه کتابونه له بهرنیو ژبو را وژباړل او یو شمیر یې په ډیرو لږو امکاناتو چاپ کړل. په بهر کې افغان میرمنې په ټولنیزو او فرهنګي ډګرونو کې فعالې دي خو هڅې یې د قناعت وړ نه دي په تیره د مورنۍ ژبې د زده کړې او تدریس په برخه کې یې کوم خاص فعالیت نه تر سترګو کیږي.

لازمه ده دلته افغان میرمنې همداسې ټولنې ولري په ټاکلو وختونو کې سره کینې او په موجوده ستونزو بحثونه وکړي هغوی تر بل هر چا په دې ستونزو پوهیږي او حل لارې یې لټولی شي. د ماشومانو لپاره یوه دایماً فعاله ویبپاڼه او په فیسبوک کې یوه یا څو ځانګړې پاڼې ضرور دي چې ولرو. له همدې لارې کولی شو د افغانستان د ننه او بهر میشتی ماشومان سره نږدې کړو او په مورنۍ ژبه د انلاین تدریس یو منظم سیستم را منځ ته کړو. په دې برخه کې باید دولتي مسوول ارګانونه او خپله خلک لاس په کار شي.

په بهر کې د ماشومانو د عمر د هرې کټګورۍ لپاره پریمانه کتابونه شته، دغه زیاتره کتابونه د افغان ماشومانو لپاره که وژباړل شي او چاپ شي موږ به د خپل مسوولیت یوه برخه تر سره کړې وي. ځینې دوستان وایي په بهر کې چاپ کتابونه د بهرنیو ماشومانو لپاره دي په داسې حال کې چې داسې نه ده ، ځکه وایي:

ماشومان که د مشرق که د مغرب دي
د ژړا او د خندا انداز یې یو دی

له ځینو خاصو مواردو پرته چې ممکن زموږ ماشومان ورسره بلد نه وي لکه سمندر او سمندري حیوانات ... نور نږدې زموږ ټول فولکلور سره یو او نږدې دی. په جرمني کې میرمن اناهیتا روهي د افغان ماشومانو لپاره د جرمني ماشومانو کتابونه ژباړلي دغه راز مصور بنسټ او په کابل کې میرمن کلتوري – ټولنیز بهیر د بهرنیو هیوادونو د ماشومانو لپاره ډیر کتابونه وژباړل چې زموږ ماشومانو ډیر خوښ کړل. موږ ته لازمه ده چې ډیرې همداسې لارې چارې وممو او خپل ماشومان وژغورو چې سبا له ځانه پردي نه وي که نن ماشوم له خپل فرهنګ او خپلې ژبې لیرې وي سبا چې لوی شي تل به د هویت او شخصیت له بحرانه ځوریږي،نو راځئ خپل ماشومان وژغورو او له مورنۍ ژبې سره یې لوی کړو.





# فرصت که ننګونه!
# کډوالي؛

## مجیب الرحمن احساس

کډوالي له جګړې او نا امنۍ وروسته د افغانستان او افغانانو له نامه سره تړلی نوم دی، څلوېښت کاله کیږي چې افغانان د هر نظام له را نړېدو سره دغه ترخه تجربه تکراروي او دا دي په افغانستان کې پنځمه لسیزه هم دکډوالۍ له یوې نوې څپې سره پیل شوه.

د ملګرو ملتونو دکډوالو چارو « یو،ان،ایچ،سي ،ار» د یوه راپور پراساس ، شاوخوا شپږ نیم میلیونه افغانان په بهرنیو هیوادونو کې اوسیږي چې لوی شمېر یې په ایران او پاکستان کې دي، خو ښایي پر افغانستان وروستۍ راغلې څپې د کډوالۍ دا کچه څو چنده لوړه کړې وي او دا نه تکرارېدونکی داستان لاهم روان دی.

خو آیا مهاجرت یوازې د بدبختۍ نوم دی؟ ښایي افغانستان دکډوالۍ لوړ شمیر ولري، خو یوازینی هیواد هم نه دی چې کډوال لري، په نننۍ نړۍ کې ډیری کسان له جنګ جګړو ور ها خوا د اقتصادي فرصتونو او نورو اسانتیاو لپاره هم کډوالي ته مخه کوي او د خپل ژوند د مسیر بدلولو لپاره دکډوالۍ پرمټ نوې لارې چارې لټوي.

د ساینس او ټکنالوژۍ له برکته نننۍ نړۍ خورا کوچنۍ شوې او د یوه کلي بڼه یې غوره کړې ده،

هرڅوک کولای شي هر کله چې وغواړي د نړۍ له یوې برخې بلې برخې ته په خورا ساده ډول سفر وکړي.
د امریکا متحده ایالات چې اوس مهال د نړۍ اقتصادي او سیاسي سر لاری هیواد بلل کیږي، لوی شمېر وګړي یې بهرنیان دي او د دې هیواد پخوانی ولسمشر بارک اوباما د افریقا د لویې وچې کېنیا هیواد څخه و، چې مور او پلار یې امریکا ته کډوال شول او بارک اوباما له یوه عادي کډوال څخه د زده کړو په برکت د امریکا متحده ایالاتو سیاست ته ور دننه شو، د پارلمان غړی شو او بلاخره د دې هیواد لومړنی تور پوستی ولسمشر شو.
همدا شان د دې هیواد د اوسني ولسمشر جوبایډن مرستیاله کاملا هاریس یوه اسیاسي میرمنه ده چې کورنۍ یې کلونه مخکې امریکا ته کډواله شوې ده.

د امریکا متحده ایالاتو ترڅنګ، د دې لویې وچې په ډیری هیوادونو زرګونه بهرني وګړي چې هلته کډوال شوي د دې هیوادونو په سیاستونو کې مهم رول لري.
دغه راز د بریتانیا اوسنی صدر اعظم ریشي سوناک هندي الاصله بریتانیایی دی او دې ته ورته دګڼو پرمختللو اروپایي هیوادونو دکابینې وزیران بهرني کډوال دي او د دې هیوادونو په سیاسي، اقتصادي او ورزشي پرمختګونو کې لوی لاس لري.
ښایي په استثنایي ډول ځینې افغانان هم وي چې په نورو هیوادونو کې لوړې دولتي دندې ولري او په نړیواله کچه پیژندل شوي وي ، چې بیلګه یې زلمی خلیلزاد یادولای شو، خو له بده مرغه لوی اکثریت کډوال شویو افغانانو د دې هیوادونو له مهمو فرصتونو ګټه نه ده اخېستې.

ډیری افغان کډوال چې دې هیوادونو ته تللي د پرمختګ او زده کړو پرځای یې په ورځني ډول د پیسو ګټلو ته ترجیح ورکړې ده او د دې پرځای چې د زده کړو له لارې دپرمختګ لوړو پوړیو ته ورسیږي له هماغه پیله یې سختو او درنو کارونو ته مخه کړې، چې له بده مرغه نه د پیسو څښتنان شوي او نه یې هم زده کړې کړې او دا دي تر ننه په هماغو سختو کارونو کې بوخت پاتې شوي دي.
ممکن ځینو افغانانو په یادو هیووادونو کې واړه تجارتونه او کاروبارونه پیل کړي وي،خو بیا هم تر یوې محدودې کچې پاتې شوي او د پرمختګ لپاره یې هڅه نه ده کړې.
خو آیا لاهم د بدلون وخت نه دی را رسېدلی؟

لویدیځ هیوادونه د زده کړو لپاره تر ټولو مساعد هیوادونه دي او باید دې هیوادونو ته راتلونکي افغانان تر هرڅه لومړی د زده کړو په اړه فکر وکړي.
ممکن اقتصادي ستونزې د زده کړو د مخنیوي پر وړاندې خنډ ووسي، خو په دې هیوادنو کې شته فرصتونو ته په پام ، ډیرې داسې لارې چارې شته چې د زده کړو ترڅنګ کار هم کولای شي او خپلې اقتصادي ستونزې حل کولای شي.
په افغانستان کې تر وروستي سیاسي بدلون او یوې بدې غمیزې وروسته، یو ځل بیا زرګونه افغانان اړ شول چې خپل هیواد پریږدي او لویدیځو هیوادنو ته مخ کړي.
خو داځل یې توپیر دا دی چې د دې کډوالو لوی شمېر لوستي او مسلکي ځوانان دي چې دافغانستان په دولتي ادارو کې دکار تجربه هم لري.
خو کله کله بحرانونه لوی فرصتونه هم رامنځ ته کوي، ممکن ګڼو افغانانو ته دا فرصت په سختۍ لاس ته ورغلی وای او اوس چې دلته را رسېدلي ، ښه ده چې له دې چانس په تر ټولو ښه ډول کار واخلي او د پخوانیو تجربو د تکرار پرځای د زده کړو په فکر کې شي.
له شک پرته چې له یوه نا اشنا محیط سره بلدیتا هم کله کله وخت نیسي او ستونزمنه وي، خو ښه ده چې لویدیځ ته راغلي افغانان په ځانګړي ډول هغه کسان چې لږ تر لږه لوړې زده کړې لري ، باید د یوه اوږد مهال پلان په درلودلو سره د نورو هیوادونو د کډوالو له بریالیو تجربو ګټه واخلي.
ښایي د افغانستان اوسني سیاسي او اقتصادي ناسم وضعیت هغوی ناهیلي کړې وي او دبدلون تمه ورته اسانه نه وي، خو تجربو ښودلې هغه نظامونه چې د خلکو ترمنځ ریښې ونه لري دوامداره نه پاتې کیږي او باید دغه ځوانان د ناهیلۍ پرځای د خپل هیواد لپاره هم فکر وکړي.
ممکن ځینې افغانان په لویدیځ کې د اوږد مهاله پاتې کېدو په فکر کې وي، خو له شک پرته چې وطن وطن دی او حتمي ده چې ډیری کسان بیرته ورتلونکي دي، خو ولې خالي لاس؟
او هغوی چې دلته د اوږد مهاله پاتې کېدو په فکر کې دي ، ولې د ورځني کار او څو پیسو ګټلو پرځای پر زده کړو تمرکز ونه کړي!
د دې هیوادونو یوه لویه ځانګړنه داده، چې بشري ظرفیتونو او مسلکي کدرونو ته خورا درناوی لري او له ځینو استثنایي حالاتو پرته، له توکمي او نژدادي توپیر پرته ورته دکار زمینه مساعدوي او فرصت په لاس ورکوي چې لا وځلیږي.
تجربو ښودلې چې افغانان له هیچا هم کم نه دي او که چیرې زیار وباسي کولای شي چې د نړۍ په هر میدان کې سیالي وکړي او لوړو مقامونو ته ورسیږي.
نو همدې ټولو مسایلو ته په کتو هغه افغان کډوال چې دلته د اوږد مهال لپاره د پاتې کېدو په فکر کې دي او یاهم بیرته هیواد ته د تلو پلان لري ، باید د خپل ځان د ظرفیت پر لوړو او زده کړو تمرکز زیات کړي او نور پخوانۍ تجربې تکرار نه کړي.

ادغام

## لاسنيوى

ادغام په جرمني کې افغان کډوالو ته د لارښوونې او د هغوی د ستونزو د حل ځانګړې برخه ده. موږ به په دې برخه کې تاسې ته جرمني کې د ادغام، ژوند، کاروبار او کډوالی په اړه بيلابيل مطالب خپروو.
پيل يې دلته دکډوالو ترمنځ دکورنيو ستونزو پر عواملو او لارو چارو کوو.

۱

## محب زغم

# د کورنیو ستونزو عوامل



په اروپا، په تېره بیا په جرمني کې مېشت افغانان له ځینو کورنیو ستونزو سره مخامخ دي. په دې ستونزو کې مالي مسئلې، کار او تعلیم، له نوي فرهنگ سره جوړ جاړی، د ماشومانو د حقونو او آزادیو او ډسپلین تر منځ ټکرونه او ځینې نورې شاملې دي. د لیکنو په دې لړۍ کې به یوه یوه ستونزه راسپړو او حل لارې به یې بیانوو.

ممکن د دغو ستونزو د حل لپاره تاسو نورې متفاوتې او ښې لارې تجربه کړې وي، نو که خپلې بریالۍ تجربې شریکې کړئ، ممکن د نورو کورنیو د ستونزو په حلولو کې مرسته وکړئ.

**د پیسو پر سر دعوې دنگلې**

په جرمني کې د هر انسان لپاره د ژوند د لومړنیو ضرورتونو د پوره کولو لپاره پیسې ورکول کېږي. څوک چې کار کوي او کافي عاید لري نو هغوی خو خپلې پیسې لري خو څوک چې په مختلفو دلیلونو کار نه کوي یا کار نه شي کولی نو دولت ورته میاشت په میاشت پیسې ورکوي.

نوي راغلي افغانان د ژبې او احیاناً د یوه کسب تر زده کولو پورې له دولت نه پیسې اخلي. همدارنگه اکثره پخوا راغلي خلک هم په مختلفو دلیلونو کار نه کوي او جاب سنټر ورته میاشتنی تخواه ورکوي. دغه پیسې د کورنۍ د هر غړي لپاره مقررې دي او د پیسو د ورکړې په فورم کې د هر چا حساب معلوم دی چې پلار او مور ته څو څو روپۍ ورکول کېږي او هر اولاد ته یې څومره پیسې پرې کېږي.

په کورنیو کې د ستونزو یو لوی عامل د دغو پیسو د لگولو څرنگوالی دی، ستونزه په دغو دلیلونو راولاړېږي:

- په وطن کې خپلو خپلوانو ته د پیسو لېږل،
- له اولادونو سره د پیسو په ورکړه کې دوه‌گونی چلن،
- د ښځې او مېړه تر منځ د پیسو د لگښت په اړه اختلاف،
- په مستۍ او عیاشۍ پیسې لگول

دلته به دغه هر مورد توضیح او حل لاره ورته بیان کړو:

- ځینې نران په وطن کې خپلو خپلوانو ته د پیسو لېږل خپل مسوولیت بولي خو که مېرمنې یې هم وغواړي چا ته پیسې ولېږي نو اجازه نه ورکوي. همدا وي چې ښځې وایي جاب سنټر تا ته هم پیسې درکوي او ما ته هم نو زه ولې له خپلو خپلوانو سره د مرستې حق نه لرم. بله مسئله په دې کې دا ده چې پلرونه د خپلو اولادونو ضرورتونه نه پوره کوي،دوی هغه پیسې چې دولت یې د اولادونو د خوراک څښاک، جامو ، لوبو، سپورټ، چکر او تفریح لپاره ورکوي، په جیب کې اچوي او بیا یې نورو ته لېږي. ماشومان تر هغه مهاله پورې چې واړه وي، ممکن غږ ونه کړي خو کله چې لږ لوی شي او خپل حقونه وپېژني نو بیا لانجه کوي چې ولې زما لپاره موبایل یا لپ ټاپ یا د گېم او ساعت تېرۍ وسایل نه اخلې او زما پیسې خپلو قریبانو ته لېږې.

د دې ستونزې حل ډېر ساده دی.

- د خپل اولاد او مېرمنې حق په بل چا مه خورئ. په وطن کې د پاتو خپلوانو لاسنیوی ډېر ښه کار دی، انساني او اخلاقي کار دی خو د بل پیسې هغوی ته لېږل، ظلم دی. که د مرستې مېړانه لرئ نو د کار کولو مېړني هم اوسئ، کار وکړئ، د خپلې کورنۍ ټول ضرورتونه پوره کړئ او بیا که اضافي پیسې در پاتې شوې، په ویاړ او په خلاص مټ یې هر چا ته چې غواړئ، ور ولېږئ. که مو کار ته ملا نه ټینګېږي، نو یوازې د خپلې برخې پیسو نه سپما وکړئ او عزیزانو ته یې واستوئ.
- ځینې کورنۍ د لور او زوی یا کشر او مشر تر منځ توپیر کوي؛ مثلاً که زوی یې بایسیکل غواړي، ژر یې ورته اخلي،که زوی د ګېم وسایل غواړي، ورته اخلي یې ،خو د لور دغسې غوښتنې نه پوره کوي. حتی ممکن په خوراک او جامو کې هم دغسې تبعیض وشي او هر ښه او قیمتي شی د زوی لپاره واخیستل شي خو لور ته ارزان او بې کیفیته شیان وپېرل شي. ښایي په ځینو کورنیو کې خبره اپوټه هم وي. په هر حال، که د لور حق په زوی خورئ یا د کشر په مشر او یا برعکس، دا ټوله بې عدالتي او نا انصافي ده.
- که د دې ستونزې مخه نیول غواړئ، د هر چا حساب ښه کړئ. هر چا ته د پیسو په لګولو کې برابر حق ورکړئ. موږ چې څنګه جرمني ته راورسېدو، د ټولې کورنۍ په خوښه مو داسې ترتیب جوړ کړ چې د کور د خرڅ خوراک او د کور د وسایلو پیسې ټول په ګډه په مساوي توګه پرې کوو. مثلاً که په میاشت کې دولس سوه یورو د خرڅ خوراک لګښت وي، شپږ واړه دوه دوه سوه یورو پرې کوو. نور نو د هر چا له مقررې پیسې چې څومره پاتې کېږي، هغه یې خپلې دي او خوښه یې چې په جامو یې لګوي، ځان ته کمپیوټر اخلي، د کلپ فیس پرې کوي، که د ګېم او تفریح شیان پرې رانیسي. د دې کار څو ګټې دي. یوه دا چې عدالت کېږي او چا ته ګیله نه درېږي چې ولې دې زما پیسې په بل ولګولې. بله ګټه یې دا ده چې اولادونه مو پر ځان باور پیدا کوي، د مالي مدیریت مهارتونه زده کوي، د پیسو په قدر او د سپما په ارزښت پوهېږي. دریمه ګټه یې دا ده چې بې ځایه توقع نه کوي. که ټولې پیسې د پلار په جیب کې وي، ممکن هر اولاد ځینې غیر واقعبینانه توقعات ولري چې پوره کول یې ناممکن وي.
- کله کله د ښځې او مېړه تر منځ د پیسو د لګولو پر څرنګوالي لانجه پیدا کېږي، ممکن مېړه کنجوس وي او د ضروري شیانو اخیستلو ته هم زړه ښه نه کړي یا کېدای شي ښځه له نورو د سیالۍ په خاطر تر خپل وس زیات لوکس او نوي شیان وغواړي. ځینې مېرمنې په جامو او سینګار ډېرې پیسې لګوي او ځینې نارینه په سفر ، چکر او خرابات.



د دې ستونزې حل هم په دې کې دی چې د هر چا پیسې بېلې وي او بیا یې خوښه چې خپلې پیسې په څه شي او څنګه یې لګوي. خو د کور د ضروري شیانو لکه خوراک او څښاک او لوښي کوډي پر اخیستلو توافق باید وشي. ښځه او مېړه او ټول اولادونه یې باید سره کېني او په مشوره فیصله وکړي چې کوم شیان ضروري دي او باید واخیستل شي، څه شی بل وخت ته پرېښودل شي.

- په مستۍ او عیاشۍ پیسې لګول بل دلیل دی چې د کورنیو په منځ کې ستونزه جوړوي. یو نیم سړی ممکن خپل مسولیتونه ونه پېژني او ډېرې پیسې په سفر او چکر، مېلو چړچو، نشې او قمار یا فحاشۍ ولګوي. په دې حالت کې نو مېرمن یې حق لري چې ورسره دعوا وکړي. سم سړی که ځان ته سفر او مېلې خوښوي، خپلې کورنۍ ته یې هم غواړي. د جاب سنټر او سوسیال په پیسو خو مېله او چکر چندانی کار هم نه دی، خو بیا هم که مو زړه ورته کېږي نو کورنۍ مو چکر ته بوځئ یا اجازه ورکړئ چې چېرته یې خوښه وي، هلته ولاړ شي.
- د دې ستونزې حل بیا هم د هر چا د پیسو په بېلولو کې ده. له اخلاقي فساد پرته چې نوره هر رقم تفریح او ساعت تېري غواړئ، په خپلو پیسو یې وکړئ چې په کور کې مو لانجه او شخړه رامنځته نشي.
- نو د پیسو پر سر د لانجو څلور واړه عمده عاملونه یعنې د ښځې او اولادونو په پیسو د بل چا لاسنیوی، د یو اولاد حق په بل خوړل، د کور د لګښتونو په اړه نه همغږي او په خپلو بنډارونو او مېلو د پیسو لګول؛ په انصاف او عدالت سره لرې کېدلی شي. د هر چا حق معلوم او خپله غاړه خلاصه کړئ. دې سره به په کورنۍ کې د پیسو د لګولو په سر لانجه ختمه شي.



**شبیراحمد سلیمي**

# په جرمني کې ژوند، زموږ توقعات، ستونزې او حقیقتونه

د بل هر وخت په پرتله ښايي په افغانستان کې د وروستي جمهورت له ړنګېدو وروسته ډېر افغانان نورو هېوادونو ته کډوال شوي وي، متاسفانه دا زموږ افغانانو د ژوند یو تریخ حقیقت دی. زموږ د کډوالۍ کیسې له ډېرو ناویلو شویو او مجبوریتونو ډکې دي. معمولا انسان د نویو شیانو په تجربه کولو کې خورا له سخت حالت څخه تېرېږي. هغه که د ژوند په هره برخه کې وي، نو کله چې ځوک داسې چاپیریال ته راځي چې هلته یې هر څه د تېر ژوند برعکس او ډېر زیات متفاوت دي نو ورسره عادي کېدل ډېر ستونزمن شي. ځینې وخت په نویو چاپیریالونو کې عادت کول کلونه نیسي خو د دې ستونزه یو ښه اړخ دا دی، چې په انسانانو پورې اړه لري چې څنګه غواړي ځان له دغه حالت سره عادي کړي. په دې ښايي تر بل هر چا افغانان ډېر ښه پوه شي چې کډوالي او له خپل وطن څخه لرې والی څومره سخت او نه هېرېدونکی درد دی. چېرې چې موږ پیدا شوي یوو او ریښې مو کړې دي، نو کله چې هلته درته ژوند سخت او پرېښودلو ته یې اړ شې دا ډېر سخت حالت دی. هر څه ممکن هېر شي مګر د بې وطنۍ درد ښايي هېڅکله هېر نه شي. دا به منو چې زموږ وطن ښايي د نړۍ د دریمې درجې هېوادونو په قطار کې هم وروستي ځای ولري خو بیا هم موږ ته د مور په شان خوږ دی ځکه هلته مو خاپوړې کړې او هلته مو د ژوند هره شېبه یوه خاطره ګرځېدلې ده. نو ممکن اکثرو خلکو ته یې هېرول ډېر ستونزمن کار وي او پر دې ښايي د بحث لپاره زښته ډېرې جملې یو پر بل پسې لیکلو ته اړتیا ولري. معمولا په وطن کې د پاتې ټولو خلکو تصور دا دی، چې هېڅوک له مجبوریته له دې وطن نه کډوالۍ ته نه دي اړ شوي، او د تښتېدلو پېغور هم راکوي چې متاسفانه دا د یوې لوېې کتلې خلکو په حق کې ډېر بې انصافه قضاوت دی، د هر افغان د کډوالۍ تر شاه یوه دردناکه کیسه شته چې هر چاته یې ممکن درک کول ستونزمن وي.

کله چې په افغانستان کې وو، نو تمه وي چې یوه امن او داسې هېواد ته لاړ شو چې ژوند پکې وکړو او راتلونکی مو پکې جوړ کړو، خو چې راشو بیا نو د دې ژوند له حالت څخه سر ټکوو. دا چې موږ په افغانستان کې ژوند په ډېرو کمو امکاناتو کوو، که خپل شخصي هر ډول او هر څومره ډېر امکانات ولرو خو بیا هم زموږ د وطن هر سیستم د اروپا او په ځانګړې توګه د جرمني په پرتله ډېر وروسته پاتې دی. کله چې د راتګ تکل کوو او راځو په لاره مو خیال دا وي چې اوس به نو د ځمکې په مخ جنت ته ځو یوازې د دکمې په وهلو به ډوډۍ راوړل کېږي او موږ به یې خورو. همداسې د ژوند نور امکانات هم ډېر زیات پرمختللي راته ښکاري او دا مو تمه وي چې لوکس کور به لرو او له هر ډول امکاناتو به مالمال وي. معمولا دا تصور موږ له هغه انځوریزو فلمونو څخه اخیستی دی، چې موږ یې پر ټلویزیون یا هم پر انټرنټ ګورو. خو کله چې جرمني ته داخل شو، لومړی ځو ورځې په کمپ کې انسان د حیرانتیا په حال کې وي او داسې انګېرې چې دا ممکن اصلي جرمنی نه وي. د دغه کمپ له دوه دریو ورځو ژوند وروسته مو بیا هم دا تمه وي چې ښايي په یوه مجلله اتلس پوړیزه ودانۍ کې مې کور وي او زه پکې له خوبه څښم او خورم. ځینې کسان ښايي همداسې ځایونو ته انتقال شي او ځینې د امکاناتو د نه شتون له امله یوه دولتي کور یا هم دولتي هایم (دولتي کورونه دي چې خلک پکې د موقت وخت لپاره ساتل کېږي) نو هلته مو د تمې خلاف ځای وي یعنې څنګه چې موږ جرمنی په خپلو خیالاتو کې ترسیم کړئ وي د هغه هر څه خلاف وي. ګورو چې دلته هم ستونزې شته، خواري به کوې ژوند به جوړوې او په خپلو پښو به ځان دروې نو زړه مو تنګ شي او څو ورځې وروسته د ډېپرېشن اصطلاح زده کړو او په ډاکترانو ګرځو. په داسې حال کې چې په خپل وطن کې مو د دې مریضۍ نوم هم لا زده نه وي.



دا ستونزه یوازې زموږ له ناسم تصور څخه رازېږي ځکه موږ څه په سترګو لېدلي نه وي خو په خیال کې مو جوړ کړي وي هغه هم په داسې بڼه چې ښایي په ټوله نړۍ کې ساری نه وي. زموږ دا سادګي اکثره وخت د دې سبب کېږي چې بېرته له هر ډول ستونزې سره سره وطن ته وګرځو او یا دومره اندېښنه او تشویش وکړو چې بیا مو درملنه سخته وي، یا مو هم ظاهر له ډېرې اندښنې داسې حالت ته ورسېږي لکه د عمر مو چې لس کلونه تېر شوي وي.
دا هېڅکله د چاپیریال او د هېوادونو ستونزه نه‌ده، دا زموږ شخصي ستونزه ده چې په زوره غواړو ځانته یې پیدا کړو. دا که اروپا هم ده، دلته هم انسانان ژوند کوي، ستونزې شته هر څه یوازې د دوکمې په کېکاږلو سره نه حاضرېږي په خپله به وسیله کېږي او د ښه ژوند لپاره به هلې ځلې کوې. زموږ زیاتره هېوادوال د دې له امله دلته سخت په تنګ شي او د دې ځای او محیط سره ځان عادت کول ورته ستونزمن شي چې فکر کوي په جرمني او نورو هېوادونو کې پیسې په ونو کې راشنې شوې دي او یوازې د شکولو څوک ورته پکار دي. چې دا تر لمر روښانه ده او هر څوک چې دلته ژوند کوي دا درک ورته لګېږي چې ښه ژوند، ډېرې پیسې پیدا کول او ښو امکاناتو ته رسېدل ډېره خواري او زحمت غواړي.
نو هدف دا دی، چې دلته راتګ له لومړی ورځې د هوسیانې او بسیاینې په مانا نه‌دی، ممکن یو کال وخت ونیسي چې له محیط او د دې هېواد له قوانینو سره ځان بلد کړې او ځان پوه کړې چې دلته د ژوند لاره کومې خواته بریالی تللې ده. زما غوښتنه له خپلو ټولو هغو هېوادوالو دا ده، چې دلته هم ښه ژوند کول وخت ته اړتیا لري باید حوصله ونه بایلئ ځکه وخت نیسي او دا په تاسو پورې اړه لري چې څومره ژر غواړئ داسې یوه ښه حالت ته ځان ورسوئ. باید د خپلو توقعاتو په کابو کولو کې له ځان سره مرسته وکړو او ژوند دلته هم د حقیقت په بنا قبول کړو، زه ډېر داسې کسان پېژنم چې په یوه کال دننه کې یې د خپل زحمت او هلو ځلو له امله تر ځینو هغو کډوالو ډېر ښه ژوند ځانته برابر کړئ دی چې پنځه شپږ کاله مخکې اروپا ته راغلي دي. نو دلته هم ژوند زموږ په خپل کوښښ او ځیرکتیا پورې اړه لري او سمېدلی شي.

## اجمل تورمان

# افغان پناه غوښتونکي له کومې جدي ستونزې سره مخ دي؟

په جرمني کې په تیر۲۰۲۲ کال له ۲۱۷ زرو زیاتو کسانود پناه اخیستلو غوښتنه کړې ده.
د جرمني د کډوالو د چارو فدرالي اداري په خپل کلني راپورکې ويلي، چې له ۲۰۱۶ کال راهیسې دا په جرمني کې د پناغوښتونکو تر ټولو لوړه شمیره ده. د ۲۰۲۱ کال په پرتله د پناه اخیستونکو شمیرنژدې ۴۷ سلنه زیات ښودل شوی دی.
د دغې اداري په وينا تيرکال جرمني ته د ورغلو کډوالو اکثريت يې د افغانستان، سوریې، ترکیې او عراق اتباع دي. پردې سربيره تيرکال جرمني په خپله خاوره کې د اوکراين له جګړې تښتيدلو شاوخوا يوملیون کډوالو ته هم پناه ورکړې خو هغوی د پناه غوښتونکو په توګه نه بلکې د اروپايي ټولنې د طرزالعمل له مخې په موقته توګه د خونديتوب له ملاتړه برخمن شوي دي.
په همدې حال کې جرمني شا او خوا دوه مياشتې مخکې د نورو ۳۷ زره له خطر سره مخ افغانانو د ويستلو اعلان وکړ.
د جرمني د بهرنيو چارو وزارت په يوه اعلاميه کې ويلي وه چې، د زيانګالو افغانانو لپاره په دې فدرالي پروګرام کې دوه کټګورۍ خلک مستحق ګڼل کېږي.
د اعلامیې پر بنسټ لومړی هغه خلک مستحق دي چې پخوا يې له عدلي او قضايي برخو او رسنيو سره کار کاوه يا يې سياسي، فرهنګي او ورزشي فعاليتونه درلودل او اوس يې ژوند په خطر کې دی.
په دويمه برخه کې د هغو خلکو د کډوالۍ غوښتنليکونه منل کېږي چې د جنسيت، جنسي تمايلاتو، هويت يا مذهب په خاطر له کوم خاص تاوتريخوالي سره مخ دي يا يې پخوا بد حالت تجربه کړی وي.
لومړيتوب هغو ښځو ته ورکول کېږي چې تاوتريخوالی ورسره شوی وي او حقونه يې تر پښو لاندې شوي وي.
خو انتقادونه دا دي، چې جرمني د هغو کسانو لپاره چې مخکې يې په دغه هيواد کې د پناه غوښتنې بهير بشپړ شوی د استوګنې لپاره لازم امکانات نه دي برابر کړي او دوی له ګڼو ستونزو سره مخ دي وايي، بايد ورته د کورونه غم وخوړل شي.
په دې اړه ازادی راډيو يو راپور هم چمتو کړی و.



په راپور کې، يو شمېر افغانانو چې نه يې ول غوښتي پژندنه يې وشي ويلي وه، چې ځانګړې پخلنځی او حمام نه لري او په يو خونه کې څو کسان اوسېږي.
ان ځينو دا هم ويلي وه، چې له اتلسو کلنو پورته اولادونه يې هم دوی سره په يوه خونه کې ژوند کوي.
دوی دا خبره هم کړې وه، چې مشترک پخلنځي، حمامونه او تشنابونه له يو نه بل ته د بېلابېلو مرضونو د انتقال لامل شوي دي. په ورته وخت کې په ټولنيزو رسنيو کې هم يو شمېر افغانانو په دې اړه شکايتونه کړي دي.
دوی وايي، ډېرو لرو ښارونو، هغه هم کليو او بانډو ته ورکړل شوي دي، چې له جدي ستونزو سره مخ دي.
د دوی په خبره، په داسې حال کې، چې په دغو کليو کې د لومړنيو اړتياوو د پوره کولو لپاره هيڅ ډول هټۍ نشته او دوی اړ دي، چې خپلې ډېرې ورځې اړتياوې هم د ښار له مارکيټونو پوره کړي، ساعتونو، ساعتونه ورسته کلي ته بس موټرې ورځې، چې ډېر ځله د ورځې په ورستيو کې يې دمخه ورکړل شوی پروګرام هم رنګ شوی او دوی له خپلو ورو ماشومانو سره د شپې په تياره کې سلګونه متره لار په پښو وهلې ده. دغه افغان پناه غوښتونکي وايي، ورته ويل شوي، چې له درې کلونو مخکې له خپلو ورو ښارونو بل ځای ته د کوچېدلو حق هم نه لري.
ماشومانو ته په وړکتنونونو او ښوونځيو کې د ځای نه شتون دا هم يوه جدي ستونزه او مسله ده.
له شپږو کلونو کم عمره ماشومان بايد لومړی وړکتونو ته ولاړ شي تر څو ښوونځي ته چمتو شي خو دوی ډېر ځله په وړکتونونو کې د ځای د نه شتون له امله راساً ښوونځيو کې شاملېږي، چې هلته په ژبه د نه پوهېدوو له مشکل سره مخ او ورته خورا ځورونکې تماميږي.
لويان بيا په عبادات کې هم له ستونزو سره مخ دي، ځکه ډېری دوی داسې ښارونو ته ورکړل شوي، چې جومات نه لري، د اذان غږ نه اوري او نه هم په جماعت لمونځ ادا کولی شي.
دې ستونزو ډېری لويانو او ماشومانو ته رواني ناروغۍ هم پيدا کړې، چې خبره يې، د نازک وضعيت له امله تر ډاکټرانو او روغتونونو هم رسېدلې ده.
په ډېريو مواردو کې د افغان او اکرايني پناه غوښوتنکو تر منځ د توپيري چلند شکايتونه هم شوي دي.
افغان پناه غوښتونکي د جرمني حکومت له اړوند ادارو غواړي، چې د دوی ټولو ستونزو په ځانګړي ډول د سرپناه د نه شتون موضوع ته جدي پاملرنه وکړي او د امکان په صورت کې په لويه ښارونو کې لکه په نورو هيوادونو کې د پناه غوښتونکو لپاره، نوي ښارګوټي او ودانۍ جوړې کړي، تر څو د دوی دا مشکلات په بنسټيز ډول حل شي.
دوی د جرمني حکوما نه دا غوښتنه هم لري، چې د پناه غوښتنوکو په ځانګړي ډول افغانانو لپاره اړه په خپلو قوانينو کې اړين بدلون راولي او دوی ته، چې له بيلابيلو ستونزو له امله يې خپل هيواد پرېښی، څنګه چې دوی يې د ځان لپاره خوښوي، د همداسې يو ژوند امکانات برابر کړي.






سرچینه: هنډبوک جرمني

## په جرمني کې د بهرنيو تحصيلي سندونو تاييدول

**څنګه کولای شم د خپلو زدکړو اسناد په جرمني کې رسمي کړم؟**

که څوک د خپل هېواد د پوهنتون يا ښوونځي د فراغت سندونه ولري، کولای شي په جرمني کې يې رسمي کړي. د رسمي کولو په پروسه کې به ستاسې سندونه په جرمني کې له ورته سندونو سره پرتله شي او که معادل وګڼل شي نو هماغه شان رسميت به ومومي. په بله وينا، د مسلکي سندونو د رسمي کولو مانا ارزونه ده او که پايله مثبت وه، ستاسې سندونه به تاييد شي او په جرمني کې به له اړوند سند سره معادل وبلل شي. په دې ډول به تاسې په جرمني کې د کار لپاره ډېر چانسونه ولرئ.

د بهرنيو سندونو ټول درلودونکي په جرمني کې د خپلو سندونو رسمي کولو حق لري. په دې برخه کې ستاسې د استوګنې د اجازې حالت او تابعيت هيڅ رول نه لري.

**زه بايد د خپلو زده‌کړو سندونه رسمي کړم؟**

ډېر وخت ستاسې د فراغت سندونو رسمي کولو ته اړتيا نشته خو د ځينو دندو لپاره د خپلو تحصيلي سندونو رسمي کولو ته اړتيا لرئ. د بېلګې په ډول ډاکټران، وکيلان، نرسان او انجينيران بايد خپل سندونه رسمي کړي. دې ډول دندو ته تخصصي دندې يا تنظيم شوي دندې (reglementierte Berufe) وايي. که غواړئ په تخصصي دندو کې کار وکړئ، بايد د خپل فراغت سندونه رسمي کړئ. که غواړئ په تخصصي صنايعو او مسلکونو (zulassungspflichtigen Handwerk) کې ازاد کار وکړئ، بايد د خپلو زده‌کړو د فراغت سند رسمي کړئ. د دې ډول کارونو يو لست پر (Handwerksordnung) موندلای شئ. که دنده مو تخصصي يا تنظيم شوې نه وي، اړتيا نشته چې د زده‌کړو سندونه مو رسمي کړئ. البته له رسمي کولو سره يې د جرمني د کار په بازار کې د دندې موندلو چانس لوړيږي.

د (Arbeitsagentur) پر وېبسايټ په جرمني ژبه او پر (ec.europa.eu) وېبسايټ په انګليسي ژبه کتلای شئ چې د فراغت سند يا د کار ځانګه مو په تنظيم شوو دندو کې راځي او که نه.

يادونه: که غواړئ جرمني ته د کار موندلو لپاره په ويزه راشئ او يا مو دلته کار موندلی وي او په ويزه راتلل غواړئ، بايد خپل تحصيلي سندونه مو مخکې له مخکې رسمي کړي وي.

**څه ډول کولای شم ځان د سندونو رسمي کولو پروسې ته تيار کړم؟**

تر ټولو د مخه مشوره کول غوره دي. په مشورتي ادارو کې کارکوونکي کولای شي تاسې ته روښانه کړي چې د سندونو رسمي کولو لپاره بايد څه وکړئ؛ راتلونکی ګام بايد څه وي او د رسمي کولو د پروسې لګښتونه څومره دي.

په خپله سيمې کې د (Netzwerks IQ) يوه مشورتي ځانګه موندلای او سلا ورسره کولای شئ. د دې ادارې کارکوونکي مو د سندونو رسمي کولو په ټولو پروسو کې ملګرتيا کوي. په خپل ښاوخوا کې د دې ادارې يوه ځانګه پر (netzwerk-iq.de) وېبسايټ موندلای شئ. هلته په مينو کلېک وکړئ او خپل ايالت وټاکئ. همدا شان د (Arbeiten und Leben in Deutschland) اداري څخه د ټيليفون له لارې هم په دې اړه مالومات او مشوره ترلاسه کولای شئ. د دې ادارې کارکوونکي په انګليسي او جرمني ژبو خبرې کوي او له جرمني بهر اړيکو ته هم ځواب وايي. د دوی د ټيليفون شمېره (۰۰۴۹۳۰۱۸۱۵۱۱۱) ده. د دې ادارې مشوره وړيا ده خو د ټيليفوني اړيکي لګښت به تاسې ورکوئ. دوی ته د اړيکو فورمې له لورې هم خپل پيغام لېږلای شئ.



## چېرته خپل سندونه رسمي کولای شم؟

په جرمني کې د ښوونځیو، اکاډمیکو زدکړو او حرفوي روزنې د اسنادو رسمي کول ممکن دي او د هرې څانګې لپاره د سندونو د رسمي کولو لارې بېلې دي:

### د ښوونځیو د فراغت سندونه:

په ځینو ایالتونو کې د ښوونځي د فراغت سندونه د سندونو د رسمي کولو د سیمه‌ییزو ادارو (Zeugnisanerkennungsstellen) له لورې رسمي کیږي. د دې ادارو د ځانګو موندلو لپاره په انلاین بڼه د (anabin) په نوم د مالوماتو بانک ته ورشئ. که غواړئ په جرمني کې لوړې زده‌کړې وکړئ؛ په اړوند پوهنتون کې هم د خپلو سندونو د رسمي کولو غوښتنه کولای شئ.

### د اکاډمیکو اسنادوتایید د بهرنیو زدکړو مرکزي اداره کوي.

(Zentralstelle für ausländisches Bildungswesen) دا اداره د (anabin) په نامه د مالوماتو بانک لري چې په مرسته يې کولای شئ خپل پوهنتون یا د لوړو زدکړو مرکز د جرمني له معیارونو سره پرتله کړئ. دې ادارې ته د سندونو د رسمي کولو لپاره په مخامخ ډول ورشئ او غوښتنه وکړئ. د زیاتو مالوماتو لپاره د دوی پر وېبسایټ د (Zeugnisbewertung) برخه ولولئ.

### د حرفوي روزنې د اسنادو

د رسمي کولو لپاره د (Anerkennungs-Finder) پر وېبسایټ د خپل مسلک اړوند د سندونو رسمي کولو یوه څانګه ومومئ. هلته کولای شئ په مخامخ ډول د خپل مسلک نوم ورکړئ او یا له الف څخه تر یا پورې د مسلکونو له کته‌ګوریو څخه یوه غوره کړئ. وروسته به تاسې ستاسې اړوند د سندونو د رسمي کولو څانګه وښودل شي.

**یادونه:**

که لا هم له جرمني بهر یاست، بیا هم پورته یادې شوې ادارې ستاسې د سندونو رسمي کولو مسؤولیت لري. په داسې حالت کې د هغه ښار یوه څانګه وټاکئ چې غواړئ جرمني ته له راتګ وروسته ژوند پکې غوره کړئ.

که نه پوهېږئ چې په جرمني ژبه کې ستاسې مسلک ته څه وايي؛ کولای شئ پر (BQ-Portals) وېبسایټ د دقیق نوم لټون وکړئ.

## څه ډول د سندونو رسمي کولو غوښتنه کولای شم؟

وروسته له دې چې د سندونو رسمي کولو سمه اداره وموموئ؛ کولای شئ هلته د خپلو سندونو رسمي کولو غوښتنه وکړئ. البته لومړی باید دوه نور کارونه وکړئ: د سندونو رسمي کولو د پروسې په لګښتونو ځان پوه کړئ.په دې اړه نور مالومات لاندې لوستلای شئ.

ټول هغه سندونه او مدرکونه راټول کړئ چې ستاسې په بهر کې ستاسې فراغت تاییدوي. د اصولو له مخې باید د سندونو اصل او یوه تایید شوې کاپي وړاندې کړئ. په معمول ډول ټول سندونه باید د یوه رسمي دولتي ژباړن له لوري ژباړل شوي وي. په دې اړه غوره ده چې له مشورتي اداري او یا له رسمي کوونکي اداري پوښتنه وشي چې کوم سندونه ژباړې ته اړتیا لري. دا کارکوونکي همدا شان کولای شي د رسمي ژباړونکو پتې درکړي. که د خپل فراغت سندونه ونه لرئ؛ له یوې مشورتي اداري سره اړیکه ونیسئ.

کله چې ستاسې د فراغت سند وارزول شي؛ تاسې ته یې په اړه پرېکړه یا ځواب لېږل کیږي. په دې پرېکړه کې ویل شوي وي چې سندونه مو رسمي شوي دي او که نه.

که سندونه مو رسمي شوي وي؛ د (Gleichwertigkeitsbescheinigung) په نوم سند ترلاسه کوئ. د دې سند مانا دا ده چې تاسې له تخنیکي یا مسلکي اړخه په هماغه ځانګه کې د جرمني له یوه فارغ شوي‌کس سره معادل امتیاز او حقونه لرئ.

## که سندونه مې رسمي نه شي او یا نیمه رسمي شي؛ څه وکړم؟

که د زده‌کړو یا مسلک سندونه مو رسمي او معادل ونه ګڼل شي، غوښتنه به مو رد شي. البته بیا هم دې مهال کولای شئ پر (myskills.de) وېبسایټ وپلټئ چې په جرمني کې کومه دنده ستاسې له مهارتونو او تجربې سره جوړه راځي. د دې وېبسایټ په اړه نور مالومات د جاب‌سنټر یا کار اداري مامورینو هم ترلاسه کولای شئ. د دې ازموینو پایلې کولای شي له تاسې سره د مسلک په غوره کولو او یا د د زده‌کړو د اړتیا وړ ځانګې په موندلو کې مرسته وکړي. همدا شان پر (www.meine-berufserfahrung.de) وېبسایټ هم د ځان سرسري ازموینه کولای شئ. پورته یادې شوې دواړه ازموینې په څو ژبو ترسره کولای کولای شئ. که د زده‌کړو سندونه مو نیمه معادل وګڼل شي؛ کولای شئ له ځانګړو شرطونو لاندې یو څه نورې زده‌کړې (Weiterbildung) وکړئ او یا له یوې ازموینې وروسته نیمه رسمي سندونه په پوره رسمي بدل کړئ. د (IQ Netzwerk) په ځانګو کې د دې ډول فرصتونو په اړه نور مالومات هم ترلاسه کولای شئ. په خپل شاوخوا کې د دې اداري یوه ځانګه پر (netzwerk-iq.de) وېبسایټ موندلای شئ. هلته په مینو کلیک وکړئ او خپل ایالت وټاکئ.

## د سندونو رسمي کولو پروسه څومره وخت غواړي؟

په نورمال ډول د سندونو رسمي کولو پروسه شاوخوا درې میاشتې وخت نیسي. دا موده له هغې ورځې پیلیږي چې د رسمي کولو اړونده اداره ټول اړین سندونه ترلاسه کړي. په سخت حالت کې شایي دا موده یو څه نوره هم وغځیږي.

## د سندونو رسمي کولو څومره لګښت لري؟

د سندونو د رسمي کولو لګښتونه یو له بله توپیر کوي. په معمول ډول د پروسې لګښتونه له ۱۰۰ تر ۶۰۰ یوره دي خو تر څنګ یې باید د سندونو د ژباړې او ځینې نور جانبي لګښتونه هم ورکړئ.

## د سندونو رسمي کولو لپاره له کوم ځایه مالي مرسته ترلاسه کولای شم؟

که له جاب‌سنټر یا کار اداري سره ثبت یاست؛ کولای شئ هلته له خپل اړوند مامور څخه د دې سندونو ورکولو غوښتنه وکړئ. دا اداري کولای شي ستاسې د سندونو رسمي کولو او همدا شان د اضافي زده‌کړو یا وایټربیلډونګ لګښتونه درکړي. که دا اداري مو غوښتنه رد کړي؛ د سندونو رسمي کولو د پروسې درولو لپاره په لیکلې بڼه خبر ورکړئ.

که یادې شوې اداري مو د سندونو رسمي کولو لپاره ملاتړ ونه کړي؛ کولای شئ د سندونو رسمي کولو مرستې (Anerkennungszuschuss) غوښتنه وکړئ. دا مرسته له هغه چا سره کیږي چې لږ عاید لري. د دې مرستې د غوښتنې لپاره د (IQ Netzwerk) یوې ځانګې ته ورشئ. له دې وړاندې کولای شئ د یادې شوې اداري له مامورینو څخه د ټلیفون (۰۰۴۹۳۷۱۴۳۳۱۱۲۲۲) شمېرې یا (anerkennungszuschuss@f-bb.de) برېښنالیک له لارې په دې اړه پوښتنه وکړئ او مالومات ترلاسه کړئ.

هغه کسان چې په برلین او هامبورګ کې اوسیږي. د سندونو رسمي کولو لپاره د مالي مرستې ترلاسه کولو یو بل فرصت هم لري. په دې اړه لا ډېر مالومات پر (berlin.de) وېبسایت موندلای شئ. د هامبورګ اړوند د مرستو مالومات پر (diakonie-hamburg.de) وېبسایت وموموئ.

یادونه: د مالي مرسته غوښتنه باید د سندونو د رسمي کولو له پروسې پیل کېدو وړاندې وکړئ. که وروسته دا کار وکړئ؛ شایي مرسته درسره ونه شي.

**مهم**

په ځینې مسلکونو کې د کار لپاره د اسنادو رسمي کول ضروري دي څو د هغو پر بنسټ د کار اجازه تر لاسه کړئ. د بېلګې په توګه د ډاکټر په توګه کار کول د اسنادو له رسمي کولو او تایید پرته منع دي.



# څنگه کولای شو یوه بله ژبه په ښه ډول زده کړو!



زیار خان نوري

افهام او تفهیم د بشري ټولنې ترټولو ستره اړتیا ده او انسان په فطري ډول له یوبل سره د اړیکو جوړولو لپاره بیلابیلې لارې او چارې کاروي. کله چې انسانان د یوبل پر ژبه پوه نشي، نو اشاروي ژبه کاروي، خو اشاروي ژبه نشي کولای چې په بشپړ ډول مفهوم ولیږدوي، نو دلته ده چې په سم ډول د یوې بلې ژبې د زده کړې اړتیا رامنځ ته کیږي.
د یوې بلې ژبې زده کړه او پرهغې خبرې کول هنر دی او دا چې هره ژبه جلا جلا جوړښت، گرامر او ځانگړنې لري، نو ممکن په بشپړ ډول یې زده کړه ستونزمنه وي، خو ناشونې هم نه ده.
د دی لپاره چې یوه ژبه په سمه توگه زده کړو ، کومو اړینو اړخونو ته مو باید پام وي؟ او څه ډول پروگرامونه، وسایل او د ننۍ ټکنالوژۍ تاکتیکونه وکاروو؟

د یوې ټولپوښتنې پراساس (څنگه کولای شو یوه بله ژبه په سم ډول زده کړو او د زده کړې لپاره یې کوم تاکتیکونه او میتودونه مهم دي) چې د ژبې څلورویشتو نړیوالو ماهرینو پکې برخه اخیستې وه، څلور مهم مشخصات چې د ننۍ نړۍ له ټکنالوژۍ سره تړلي دي وړاندیز شوي دي چې په لاندې ډول دي.

۱ـ انلاین قاموسونه اوډیکشنري
۲ـ د لغتونو انلاین کاریالونه او اپسونه
۳ـ د ژبې زده کړې لپاره غوره او مناسب میتودونه
۴ـ د خبرو اترو او محاورې لپاره د ملگرې غوره کول

## ۱ـ انلاین قاموسونه اوډیکشنري

سره له دې چې پښتو ژبه په دې برخه کې په کافي اندازه مواد نه لري او د نورو ژبو په پرتله خواره ده، خو له نیکه مرغه په دې وروستیو کې ځینو کسانو د دې برخې دغنې کولو لپاره هڅې کړې چې خدمتونه یې دقدر وړ دي.
نو ویلای شو چې د ژبې د زده کړې لپاره قاموسونه او ډیکشنرۍ خورا مهمې دي، چې موږ یې په پښتو ژبه کې د بیلګې په توګه ځینې را اخلو.

## قاموسونه ټکی کام:

دا د پښتو ژبې یوه بډایه خزانه ده چې د ښاغلي احمد ولي اخکزي لخوا رامنځ ته شوی دی او له شک پرته چې د پښتو ژبې د بډاینې لپاره یو بې ساری اقدام دی.

## جرمني پښتو ډیکشنري :




دا د ښاغلي ډاکتر اکرم ملکزي لیکل شوی پښتو جرمني قاموس دی، چې جرمني کې میشته افغانان کولای شي، د خپل ښار اړوند له کتابتون څخه یې د یوې ټاکل شوې مودې لپاره امانت واخلي.

## عارف انځورین قاموس:

عارف انځوریز قاموس یا فرهنگ مصور عارف، چې ښاغلي عارف لیکلی او د پښتو ، دری او آلماني ژبو انځوریز قاموس دی، چې په کتابتونو کې یې موندلای شئ.




## گوگل ژباړن:

سره لدې چې په گوگل ژباړن کې لا د پښتو ژبې لغاتونه نه دي بشپړ شوي، خو یوه مهمه او بیړنۍ سرچینه د هغو چا لپاره کیږي، چې نورو امکاناتو او وسایلو ته لاسرسی نلري.




او همداسې نور...



### ۲ـ د لغتونو انلاین کاریالونه (اپسونه):



که تاسې د آيفون او آپل له توليداتو او ټکنالوژۍ کار اخلئ، نو تا سې ته جلا او که د آنډرايډ سيستم کاروئ، نو تاسې ته جلا امکانات په واک کې درکوي.
دا توليدات او خدمات ډيری وړيا آپسونه دي، خپل موبايل او يا وسيلې ته يې ښکته او کار ترې واخلئ.

### ۳ـ د ژبې زده کړې لپاره غوره او مناسب ميتودونه

لکه څرنگه چې تجربو ښوولې، هر انسان خپلې وړتياوې او د زده کړو ځانگړنې لري، دلته له ميتوډونو او پروگرامونه څخه هدف، پلان او د هغه پلي کول دي.
د ژبې زده کړې لپاره څلور اساسي ميتودونه چې ډير اړين دي په لاندې ډول دي.

### الف : خبرې اترې:

د وړتيا او پياوړتيا له مخې، که تاسې يو له هغو کسانو څخه ياست ، چې ژبه د خبرو کولو له لارې ښه او سمه زده کوئ، نو هڅه وکړئ، چې ډيرې خبرې وکړئ.
ډيرې کسان شته چې هغوئ ژبه بايد د خبرو کولو له لارې زده کړي،خو هغوې خجالتي شخصيت لري، چې نشي کولی هغه مطلوبه ژبه په خپل وخت او ټاکلي موده کې زده کړي، نو همدا سبب کيږي، چې هغوې بايد د ژبې پر زده کړه کلونه کلونه وخت ضايع کړي.



### ب : ليکل



که تاسې له هغو کسانو څخه ياست، چې له ليکلو سره مو ډير زيات شوق دې، نو همدا شوق هم کولای شي، له تاسې سره د يوې نوې ژبې په زده کړه کې مرسته وکړي.
هغه کسان چې له ليکلو سره شوق لري، معمولا هغوی خپلې ورځنۍ چارې په ژورنال کې ليکي، که تاسو هم د همدې کسانو له جملې ياستئ ، نو خپل ټول ليکل په هماغه مطلوبه ژبه ؛ که د بيلگې په جرمني وي و ليکئ.
دا به له تاسې سره ورځ تر بلې مرسته وکړي، چې نوي لغاتونه و لتوئ او هغه بار بار او بيا ځلې وليکئ.

### ج : اوريدل (غږيز)



شته داسې خلک چې دا وړتيا لري چې هر څه د يو وار او ياهم بيا بيا اوريدلو له لارې زده گړي.
که تاسو له دې جملې کسانو ياستئ، نو راډيو يو اسانه، ارزانه او په هر ځای کې دلاسرسي وړ وسيله ده، چې د اوريدو له لارې يې کولای شئ نوې ژبه زده کړئ.
د آلمان غږ راډيو « دويچه ويله » يوه ځانگړې خپرونه لري چې (لانگزام گيشپروغنه ناخريخت) په نامه يادېږي، ډير نرم او رسا خبرونه وړاندې کوي، د دې خبرونو يو ځانگړې آپس هم شته چې کولای شئ د آپستور نه يې ښکته کړئ او يا هم خپل د خوښې وړ کتابونه په آلماني ژبه غږيز واورئ.



### د : لوستل

لوستل هم یو له هغو پیاوړو لارو چارو څخه دي، چې کولای شي له تاسو سره مرسته وکړي، څو خپله نوي ټاکل شوې ژبه ښه زده کړئ.
خو دا لاره چاره ډیرې حوصلې ته اړتیا لري، دا ځکه چې تاسې به ممکن په لومړي، دویم ، دریم او په وار وار خپل د خوښې او آسانه کتاب پیدا نشئ کړای، چې په یو وار لوستلو سره مو سر پرې خلاص شي او پرې پوه شئ.
که چیرې تاسو یو کتاب انتخاب کړ چې ویې لولئ، نو هڅه وکړئ چې کتاب ولولئ او تر پایه یې خلاص کړئ، پرته له دې چې تاسو دې به ټولو مطالبو پوه شئ.

خپله د لوستلو او مطالعې دوره په دریو برخو وویشئ.

لومړی : د خپلې خوښې وړ کتابونو موندل
دویم : د یوې بلې ژبې د کتاب لوستلو سره ځان او فکر عادت کول او یو کتاب به بشپړ ډول پای ته رسول، پرته له دې چې په ټولو برخو یې پوه شو.
دریم: ژوره مطالعه او یادښت اخستل.

### ۴ـ د خبرو اترو او محاورې لپاره د ملګري غوره کول



ښايي تاسې د « ټانډم » پروګرام نوم اوریدلی وي، دا یو داسې پروګرام دی چې، د نړۍ د مختلفو هیوادونو محصلین او یا هم هغه خلک چې بله ژبه زده کوي خپل ځان ته پروفایل جوړوي، او په خپل پروفایل کې ټولې خپلې ورتیاوې، چې مهمه یې ژبه ده لیکي او ورسره مل کوي یې، چې ټانډم پارټنر یې په کومه ژبه باید خبرې وکولای شي او کومې ځانګړنې ولري.

ښايي پورته موارد د یوه انسان لپاره ممکن نه وي چې پرځان یې پلي کړي، خو له شک پرته هر انسان جلا جلا ذکاوت او ځانګړنې لري ، چې له دې میتودونو څخه په استفادې کولای شي خپله وړتیا پیدا کړي او یوه بله ژبه زده کړي.

! یادونه :

# پردی ځمکه، وطن

یو له سختو چارو څخه چې د ځمکې په سر انسانان ترېنه کړېدلي دي، د یو بل درک کول دي. دا مهمه نده چې څوک څومره سره پېژني، خو بیا هم ممکن یو بل غلط قضاوت کړي، یو بل ورټي او یا هم د تل لپاره یو د بل سره د کرکې اور په زړه کې بل وساتي. مور هم حتا ځینې وخت خپل اولاد نشي درک کولی. دوه وروڼه/خویندې، ملګري، دوستان، ټولګیوال هم همدا شان درواخلئ. حتا ځینې وخت ښایي «نه درک کول» د کلونو کلونو د مینې اړیکې ته هم د پای ټکی کېږدي.


نصیر احمد اندیال

اوس نو، کله چې مورږ د یوې بلې لویې وچې (آسیا) له یو ځپل شوي، رنګ هېواد څخه په داسې ډول راغلي یوو چې روحي حالاتو مو ضربه لیدلې؛ له لویې کتلې رابېل او دلته یوازې شوي یوو او لا هم د وطن د هرې ورځې د پېښو له اورېدو سره آرام نه لرو؛ داسې یوې ټولنې ته راګډ شوي یوو چې خلک یې راحت لوی شوي، لوږه نه پېژني او د لوړ تمدن د لرلو دعوه لري؛ نو د دومره لوی توپیر په شتون کې آیا درک کول او یو له بل سره تفاهم ته رسېدل څه ساده خبره برېښي؟

نه، د دوو کسانو، کورنیو، ټولنو او فکرونو تر منځ چې څومره هم مشترکات زیات او فکري توپیرونه کم شي، یو بل ښه درک کولای، پېژندلی او خوښولی شي. ددې لپاره ځینې واړه خو اړین وړاندیزونه دي چې پرمختللو هېوادونو، په ځانګړي ډول جرمني ته د ورسته پاته هېوادونو څخه راغلي کسان یې د ښه ادغام، توپیرونو پېژندلو، د درک د توان لوړولو او توپیر د احساس کمولو لپاره په پام کې نیولای شي.



- له هر څه مخکې باید هېره نشي چې په جرمني کې د اوسېدو مفهوم د جرمني ټولو قوانینو ته د غاړې اېښودو په معنا ده. نوي او پخواني راغلي کسان باید ټول قوانین ومني، په دې برخه کې یوه باریکي، د ټیټې کچې قوانین دي کوم چې نوو راغلو کسانو ته قانون نه برېښي، مثلا له ترانسپورتي خدماتو څخه له ټکټ پرته استفاده. د تکرار په صورت کې شخص ته حقوقي ستونزې جوړېدلې شي.



- په جرمني کې هرڅوک مذهبي خپلواکي لري. نه دولت حق لري کوم دین په چا وتپي او نه هم کسان! کوښښ وکړئ چې د دین په برخه کې له چا سره بحث او مجلس ونه کړئ، نزاکت دا دی چې په دې برخه کې هېڅ پوښتنه ونشي.

- په ټولګي، کار ځای او یا نور هر ځای کې له خلکو څخه د معاش او یا دې ته ورته شخصي پوښتنې مه کوئ. همدارنګه د کورنۍ غړو یا هم په دې اړه چې له چا سره ګډ اوسېږي، بحث څخه ډډه وکړئ.



- په سیاسي مسلو کې له چا سره بحث مه کوئ. ځکه د جرمني خلک له سیاست سره علاقه نه لري. دین شخصي شی ګڼي او ډېری یې په اړیکو کې د ستونزو رامنځته کېدلو په خاطر له بحث څخه ډډه کوي.
- انسان د یو ټولنیز مخلوق په توګه اړیکو او دوستانو ته اړتیا لري. په جرمني کې هم د اروپا د نورو هېوادونو په شان ملګري موندل آسانه خبره نه ده. له شته ملګرو سره ښه روابط وساتئ او که د نن ملګري سبا علاقه نه ښوده، تشویش مکوئ؛ دا دلته معمول ده. ډېری اروپایان له څه وخت وروسته علاقه نه ښیي چې ملګرتیا وپالي. دا د دوی ستونزه ده، نه ستاسې ستونزه! په کلتوري پروګرامونو کې ګډون ددې ستونزې حل کې مرسته کوي.

- که څوک مو ځنګ یا مخامخ کېښناستل، له هغه یا هغې سره د جنسي، نژادي او یا ظاهري جوړښت په اساس حساسیت یا غبرګون مه څرګندوئ. داسې نه چې خپله څوکۍ بدله او یا له خپل ځایه په غوښه جګ شئ. دا تعصب بلل کېږي او تعصب دلته جرم دی. که له تاسې سره دا ډول عمل وشو، لومړی سپارښتنه د هغوی له پامه غورځول دي او که نه یې شئ زغملی، ثبوتونه وساتئ او شکایت وکړئ.
- په بسونو او ټرېنونو کې د سپرېدو نزاکتونه په پام کې ونیسئ. مثلاً د هر ډول عمومي ترانسپورتي وسیلې د درېدو په صورت کې د دروازې مخه خالي پرېښودل، لومړی ښکته کېدونکو کسانو ته فرصت ورکول او بیا وروسته سپرېدل نزاکت او اصول دي. اصولاً باید معلولانو، امېدواره ښځو، ماشومانو او یا د لوړ سن کسانو ته چوکۍ پرېږدئ.



- د هېچا له اجازې او غوښتنې پرته د چا په ماشومانو غرض مه لرئ. که هرڅومره مو په ماشومانو مینه راغله، د هغوی له ښکلولو، لمس کولو او یا په مخ د لاس تېرولو څخه ډډه وکړئ. په دې برخه کې حساسیت لوړ دی.



- د فزيکي شخړې څخه تر وروستۍ کچې ځان وساتئ. ممکن ځيني غير نورمال کسان په استثنايي حالاتو کې ستاسې سره د شخړې هڅه وکړي.يا هم په ځينې حالاتو کې شايي له چا سره په جنجال واوړئ، خو په هيڅ صورت له هغه سره د فزيکي شخړې هڅه ونه کړئ، بلکې ساحه پرېږدئ؛ ځکه چې فزيکي شخړې حقوقي ستونزې جوړوي.

- په جرمني کې ټول اوسېدونکي يوشان بنسټيز حقونه لري؛ هغه که له هر هېواد څخه راغلی وي او يا هم د جرمني تابيعت ولري يو شان چلند ورسره کيږي. هېڅکله دا احساس پيدا نه کړئ چې جرمنيان له موږ څخه د حقوقي او انساني قوانينو په اساس لوړ دي. دلته ټول امتيازونه د استعداد، ژبې، تحصيل او تجربې په اساس ترلاسه کېږي. کوښښ بايد وشي چې ژبه ښه زده کړل شي او د مسلک په برخه کې ښه انتخاب وشي.

- کوښښ بايد وشي چې د وطن په حالاتو د بحث پر ځای ټول تمرکز دلته په پرمختګونو او لاسته راوړنو باندې وشي. دلته په ټولنه کې د ادغام، پرديتوب احساس کمېدو او د ژوند د ښېرازی او پرمختګ کيلې جرمني ژبه ګڼل کېږي.

خوښي د ځای په بدلون کې نه بلکې د احساساتو په بدلون کې ده. احساسات په ټولنه کې د ځان ښه ليدلو په پايله کې ښه کيږي. که غواړئ خوښ واوسئ، سکون ولرئ او په يو بل وطن کې د بې وطنۍ احساس ونه کړئ؛ نو ټول قوانين، اصول، نزاکتونه مراعات او ځانګړو اهدافو ته د رسېدو دوامداره هڅه وکړئ. په دې پراخه نړۍ هره هغه ځمکه چې انسان پکې ازاد، اساسي اړتياوې يې پوره، سر يې خوندي او بشري حقونو ته پکې درناوی وشي، وطن بللای شو. هغه ځای، چېرته چې ژوند ارزښت لري.

# د ننګوونو تر شا بریاوې

د بریالیو خلکو له تجربو یوه یې داده چې هغوی ستونزې او ننګونې په فرصتونو بدلوي، دوی په همدې بریالي بلل کیږي، چې ستونزه یې په فرصت بدله کړې ده، په ځینو مواردو کې ښایي دا تعریف بل ډول وي؛ خو په لویه کې د بریا راز او کلی ګڼل کیږي.
د فرصت د موندلو په اړه مشهوره خبره داده، هغه ځای چې خلک ترې شکایت کوي همالته فرصتونه دي.






د علي بابا بنسټګر «جک ما» وايي، په ننګونو کې فرصتونه ولټوئ ځکه د بریا کلی په همدې ننګونو کې پرته ده.د شیوکهرا په یوه کتاب کې مې لوستي وو چې، غوره فرصتونه تر ډیره د ننګونو تر شا وي او هغه فرصت چې له ننګونو را ووزي د نورو عادي فرصتونو په نسبت خورا مهم وي.

د کهرا خبره ده چې، بریالي خلک متفاوتې کړنې نه ترسره کوي، بلکې کړنې په متفاوته بڼه ترسره کوي.

له ننګونو د راوتلو فرصتونو بېلکې خورا زیاتې دي؛ خو پایله یوه ده، هغوی چې ستونزې، سختۍ او ننګونې یې په فرصت بدلې کړې بریا ته رسیدلي دي او هغوی چې کوچنۍ ستونزه او ننګونه لویه بللې او بهانې یې لټولې د بریا له کاروانه پاتې شوي.



که د جنوبي افریقا نیلسن منډیلا د ستونزو پر وړاندې مبارزه نه وای کړې د اپارتایډ د واک پای به لا ډیر وخت اخیستی وای، ښایي تر ننه به نه یوازې په جنوبي افریقا بلکې په ډیرو نورو سیمو کې هم د تور او سپین لارې جلا وای.

ستونزې، ننګونې او فرصتونه مې ځکه ډیر یاد کړل، چې موږ ډیرو ته د افغان جلا وطنو په توګه په بل چاپیریال، جغرافیا او کلتور کې ژوند یوه ننګونه بریښي او د اړتیا، مجبوریت یا بل نوم ورته کاروو.



که هر نوم پرې کیږدو ستونزه، ننګونه، اړتیا یا بل خو په یوه څه ټول سره سلا یو، چې راباندې حاکم حالت باید سم مدیریت کړو، له وخت څخه ګټه واخلو او د سوکاله ژوند او پرمختګ چانس ومومو.



لویدیځو ټولنو ته کډوالي د ایران او پاکستان له کډوالیو سره چې ډېر افغانان یې تجربه لري، متفاوته ده، دلته د شمشتو د کمپ یا د اراک د کوڅو په څېر ژوند نه کېږي، د پیتاوي جوړولو چانس په کې نشته او د پرمختګ، ټکنالوژۍ او عصري ژوند یو چټک کاروان مزل وهي، دا کاروان دې له ځان سره کشوي او سړی باید ورسره ځان عیار کړي.
د رقابت معیارونه لوړ ختلي او پوره کول یې کلک عزم او لوړه اراده غواړي، دلته د هر عمر، فکر او مسلک لپاره داسې څه شته چې ګټه ترې اخېستل کیدای شي؛ خو مهمه داده چې د ځان لپاره همدا فرصت وموندل شي او موندل لټه او زیار غواړي.

د انټرنیټ په نړۍ کې د لټولو لارې هم خورا اسانه شوې، د زده کړو او کار له فرصتو نیولې بیا تر روغتیا، اقتصاد، سیاست ټولنیزو ژوند او یا بله هره وړه پوښتنه په کې ځوابیږي.
تېر کال مې د یوه بل هیواد ویزې ته اړتیا شوه د ویزې فیس مې باید د ماسټرکارډ یا ویزه کارډ له لارې ورکړی وای؛ خو هغه بانک چې زه په کې حساب لرم دا خدامات نه لري او که یې په کې فعال کړم نو هره میاشت باید شاوخوا ۱۵ یورو ورکړم.
انټرنیټ مې ولټولو څو انلاین بانکونه مې وموندل د هغوی خدمات مې لوستل، وړیا بانک مې په کې وموند د خلکو تجربې مې یې په اړه ولوستې او په همغه شیبه مې په کې په څو شیبو کې انلاین حساب پرانیست، نه یې کومې شعبې ته ورغلم او نه مې هم لګښت پرې راغی، ستونزه حل شوه او ماسټرکارډ او ویزه کارډ یې دواړه کارولی شم.

که په لویو او وړو ښارونو کې د کډوالو کوچني کاروبارونه وینو هر یو یې چې وپلټئ د کاراو بار عمر یې تر لسو کلونو نه اوړي او ښايي تر دې هم لږ وي، هغوی چې لس کاله وړاندې یې کار له صفره پیل کړی و اوس منځنی او کاروبار لري، هغوی چې منځنی درلود اوس د لویو کاراوبارونو خاوندان دي.
ددې مانا داده چې په دې ټولنه کې له شته ستونزو سره سره د هر کار لپاره فرصت شته په وړو کاروبارونو کې رقابت هم ډېر پیچلی نه دی؛ خو مهارت غواړي، هڅه غواړي او تعقیب غواړي.
همدا نن که له ځان سره حساب ولرو، چې پنځه کاله یا لس کاله وروسته به زه چیرته وم آیا هغه صفر چې پیل ترې کیږي ما پیل ترې کړی کنه!؟

د یوه افغان ملګري مې جرمني ژبه هیڅ نه زده کیده، پریکړه یې وکړه چې نور یې نه لولي، خو یوه شپه مو په دې قانع کړ، چې د ژبې تر یوې کچې زده کول د اخر هم اړتیا ده یعنې په دې چاپېریال کې له ژبې پرته هیڅ هم ممکن نه دي.

فکر یې بدل شو د زده کړې بنه یې بدله کړه، د لوست لپاره یې د ماشومانو کتاب واخیست، د شپې یې په دوه انلاین وړیا ګروپونو کې دوه ساعته جرمني زده کوله، د ورځې به د ژبې کورس ته تلو پنځه میاشتې وروسته یې د (B1) په کچه ازموینه په بریا پای ته ورسوله اوس (B2) لیول پای ته نږدې کړی.



ریشي سوناک

که د بریتانیا د لومړي وزیر ریشي سوناک بیلګه ګورو یا د سویډن په پارلمان کې د کډوالو استازي وینو یا هم د کاناډا په کابینه او د امریکا د حکومت په مهمو څوکیو کې د کډوالو د ګومارنو خبرونه اورو، دا کټ مټ همغسې خلک دي، لکه نن چې په جرمني ټولنه کې نوي/ مخکې راغلي افغانان دي.



جرمني د زده کړو په فرصتونو کې له مشهورو هېوادونو دی، د زده کړو لګښت په کې ټيټ دی، کيفيت يې لوړ دی د زده کړو لپاره د حکومت د ملاتړ په ځبر ډېرې اسانتياوې شته نو څه شي زموږ مخه ډب کړې!؟

له دې خبرو مې موخه کډوالۍ ته د خلکو هڅول نه دي، هغوی چې په خپله خاوره کې اوسيږي، د پرمختګ تر ټولو لوړ چانس لري؛ خو هغوی چې د خپل فکر، اړتيا يا بل هر دليل له امله را کډوال شوي بايد د ناهيلۍ فکر يې له سره ووزي.
که له روان کاروان سره سم ولاړ نه شو، نو ددې ټولنې بل اړخ دادی، چې د عمر تر پايه به يوازې د لاس مزدوري کوو او همدومره به ګټو چې بيګا يې وخورو.
په وطن کې به موږ چې اوريدل، چې په لويديځ کې ژوند ماشيني دی، ريښتيا هم ماشيني دی، که ځان يې د پرمختګ له کاروان سره ملګری نه کړو نو د عمر تر پايه همغه څه يو چې په لومړي ورځ راغلي يو.

له دې خبرو مې موخه کډوالۍ ته د خلکو هڅول نه دي، هغوی چې په خپله خاوره کې اوسيږي، د پرمختګ تر ټولو لوړ چانس لري؛ خو هغوی چې د خپل فکر، اړتيا يا بل هر دليل له امله را کډوال شوي بايد د ناهيلۍ فکر يې له سره ووزي.
که له روان کاروان سره سم ولاړ نه شو، نو ددې ټولنې بل اړخ دادی، چې د عمر تر پايه به يوازې د لاس مزدوري کوو او همدومره به ګټو چې بيګا يې وخورو.
په وطن کې به موږ چې اوريدل، چې په لويديځ کې ژوند ماشيني دی، ريښتيا هم ماشيني دی، که ځان يې د پرمختګ له کاروان سره ملګری نه کړو نو د عمر تر پايه همغه څه يو چې په لومړي ورځ راغلي يو.
له بل لوري دا ريښتيا هم سخته ده چې يو انسان کلونه خواري وکړي، او بيا بيرته هر څه په يوه بدل چاپيريال، ژبه او کلتور کې له صفر نه پيل کړي؛ خو د ډېرو نورو اروپايي هېوادونو په پرتله جرمني کې کډوالو په ځانګړي ډول افغانانو ته ښې اسانتياوې شته، خو لويه برخه دا فرصتونه افغانانو نه دي کارولي، دلته د سوريې، عراقي، ترکيي او افغان کډوالو ترمنځ توپير ډېر واضح دی.
د نورو هېوادونو ډېر شمير کډوال د کار او بار څښتن دي، زده کړې يې کړې، مسلکونه يې زده کړي، لارې يې موندلي او فرصتونه يې کارولي؛ خو د افغانانو ډېر شمېر يې بيا د همدې نورو کډوالو په کوچنيو کاروبارونو کې په دويم لاس کار کوي.
دلته دا بهانه هم نشته، چې هغه کډوال د وزير يا رييس اولادونه دي او موږ نه يو، هر کډوال چې جرمني ته راغلی ټول يې له يوه ټکي پيلوي، داسې نه ده چې ترکان ميليونران و يا د دوکتورا له ډيګريو سره راغلي او افغانان تش لاس دي، نه د هر چا د پيل ټکی يو دی.
زما باور دا و چې د افغانانو اوسنی نسل په نړۍ کې د جګړو تر ټولو سخته تجربه لري او همدا بدمرغي يې د عمر تر پايه د ژوند په ځينو برخو منفي اغيز ښندي، نو ځکه په لويديځ چاپيريال کې د هغوی د پرمختګ چانس هم د نورو په نسبت لږ وي.
خو اوس خپل دا باور ناسم بولم شايي ډېر راسره موافق هم نه وي؛ خو ما مې له خپلې يوې ټولګي والې د هغې د هيواد کوزوو د کورنۍ جګړې کيسې واوريدې.

نوموړې لس کلنه وه، چې مور، پلار، او ورور يې د خپل کور په منځ کې په داسې ډول وژل شوي، چې دا يې په قصدي ډول ننداري ته درول شوي وه، چيغو نارو او زاريو يې هم هيڅ اغيز نه درلود؛ خو دا وحشت يې د سترګو پر وړاندې تير شوی؛ خو دا لويه شوه، هيلې يې ونه بايللې، له کړاو سره يې مبارزه وکړه بيا جرمني ته را کډواله شوه او په يوه ځانګړې رشته کې يې تحصيل وکړ اوس ښه ژوند، لوړ عايد او د خدمت چانس لري.

دا بيلګه مې په دې ياده کړه چې د ټنبليو د توجيه لپاره زموږ بهانه تل دا وي، چې موږ جنګ ځپلي يو نو ځکه ذهنا ډېرو مسايلو ته چمتو نه يو، خو دا چمتوالی مود عمر تر پايه نه بشپړيږي.
بوډو شفر يو جرمنی هڅوونکی ويناوال دی پر يوټوب هم خلکو ته ويناوې کوي، هغه دا جمله ډېره تکراروي (بهانې مه لټوئ، حل لارې ولټوئ) هغه انرژي چې په بهانو لګيږي که په حل لارو ولګول شي همدا بريا ده.
له شک پرته موږ ټول ځينې ستونزې او مجبوريتونه لرو؛ خو د ژوند لپاره بايد موخې ولرو، او خپل لوی ژوند په کوچنيو بهانو کې را ګير نه کړو، که سبا بيرته خپل وطن ته هم ځو له ځان سره داسې معنوي هستي هم يوسو چې نورو ته هم ترې خير ورسيږي.



محمد عاصم مایار

# غلطې مشورې مو له ستونزو سره مخ کوي!




جرمني ته راغلي ډېر خلک په ځانګړي ډول تنکي ځوانان د نابلد چاپېريال او ژبې د نه پوهېدو له امله ډېر ځلې په غلطو اوازو او مالوماتو تېروځي چې ځينې وخت يې همدا تېروتنه ژوند ډېر تريخوي. دا ډول مالومات د اوازو او يا ټولنيزو شبکو له لارې دوى ترلاسه کوي چې سلسله يې تر افغانستان هم رسېږي. له بده مرغه په افغانستان کې د قاچاقبرو او د هغوی د شبکو له لوري تنکيو ځوانانو ته دومره تبليغات کېږي چې د ځينې ډېر نورمال ژوند په دې هيله په قمار وهي چې اروپا کې به تر هغې د ښه ژوند څښتن شي. د غلطو مالوماتو دا سلسله د غير قانوني مهاجرت په ټول مسير کې هم دوی ځپي.

که څه هم مهاجرين جرمني ته تر رسېدو دا ستونزې پر ځان مني، خو هغه غلط مالومات چې هدف ته تر رسېدو وروسته دوی اغوا کوي ډېر زيانمنونکي دي. د بېلګې په ډول زه داسې ځوانان پېژنم چې په ايټاليا کې د ماسټرۍ د زده کړو له بورسونو تېښتي څو په جرمني کې پناه واخلي. دوی فکر کوي او يا هم ورته ويل شوي چې د اسناد ترلاسه کولو ورسته د زده کړو ډېر فرصتونه شته چې پکې خپل تحصيل مخ ته وړی شي خو دا صحيح نه ده.

دويم يې د پناه اخيستو پر مهال د سن غلط مالومات ورکول دي. تنکيو ځوانانو ته ويل شوي چې تر ۱۸ کلو ټيټ عمر لرونکي کسان زر اسناد اخلي. چې دا په ځينو شرايطو کې صحيح هم ده. خو داسې کسان هم شته چې د پوهنتون د زده کړو سربېره په جرمني کې خپل سن ټيټ ورکړی. دا کټګوري خلک بيا نشي کولای خپل تحصيلي اسناد په جرمني کې ښکاره کړي او يا ترې کار واخلي. او د دوهم ځل زده کړو حوصله هم نه لري. د دې برخې مهاجرو بله ستونزه دا ده چې دوی ته د ځينو کارونو پر مهال خپل تحصيل او د هغې له کبله غرور مخ ته درېږي چې دا کار يې د کار کړلو څخه د مخ اړولو لامل کېږي. دا تېروتنه کرار کرار د دوی وخت ضايع کوي او په ډېرو سختو رواني ناروغيو يې اخته کوي.

دریمه کټګورۍ غلط مالومات د کوربه هېواد د قوانینو په اړه دي. مهاجر ځوانان د دې پر ځای چې د رسمي ادرس څخه خپور شوی قانون یا کوم کتاب ولولي د نورو کسانو په غلطو مالوماتو باور کوي. ستونزه دا ده چې دوی ته سپارښتنه کوونکي کسان هم ډېره ټیټه سطحه لري او د قانون په اړه کره او اړین مالومات نه لري. هغوی هم د اوازو او نورو لارو چارو له کبله په دې مالوماتو تېر وتلي وي. دا ډول ډېر نور موارد هم شته چې د ځینو ځوانانو پاکې هیلې لکه په اروپا کې زده کړې او ښه ژوند جوړول ناممکن کوي.

له همدې کبله اړتیا ده چې په هر چا د باور کولو پر ځای د مالوماتو او قوانینو رسمي خپرونکو ته مراجعه وشي. له نیکه مرغه اوس په انلاین ډول ډېرې کره سرچینې شته چې د قوانینو، ژوند، چاپېریال او نورو اړینو مواردو په اړه مالومات خپروي. دا اداري په فیسبوک، ټویټر او نورو ټولنیزو شبکو کې د لاسرسي وړ دي. د امکان تر حده باید خپل مالومات په خپله د لوستو او یا هم د رسمي خپرونکو ادارو د ویډیو ګانو په کتلو لوړ کړي.

څکه صحیح مالومات ستاسو توانایي لوړوي او مرسته درسره کوي څو چاپېریال ښه وپېژنئ او بیا د هغو له شرایطو سره ځان جوړ کړی. په قوانینو او ژبه پوهېدل ستاسو ژوند او نورې چارې اسانوي. که تاسو له دغو مرحلو تېر شوي یاست، بیا هم د کوربه هېواد د سیستمونو سره د ځان عیارولو لپاره هره ورځ زده کړېز مواد وګورئ. څکه ځینې قوانین او شرایط بدلېدونکي دي.
که مو مالومات رښتیني او کره وي، د نورو هغو هېوادوالو سره چې د غلطو مالوماتو له کبله په ستونزو کې دي مرسته وکړئ څو د هغوی ژوند وژغورل شي او یا له ستونزه خلاص شي. د قانوني مشورو لپاره حقوقي وکیلانو ته مراجعه وکړئ، هغوی درته، ستاسې د اسنادو د پروسس او ستونزو د راتلونکې په اړه تر فیس اخیستو دمخه، ویلی شي چې کوم ځای ته مو قضیه رسېږي او یا له څه ډول راتلونکې سره مخامخ کېږئ. په دې توګه دا مالومات مرسته درسره کوي چې سم تصمیم ونیسئ.
په دې هیله چې د اوسني عصر له غلطو مالوماتو خوندي اوسئ!

# په جرمني کې لومړی ورځې، اړین تړوني او کاريالونه




سره له دې چې په جرمني کې د اوسېدو او د نوي ژوند د پيل لپاره دنورو ژبو په پرتله، په پښتو ژبه ډېر مالومات نشته خو کیدای شي لاندې لينکونه له تاسې سره د ورځنې ژوند، ژبو زده‌کړې او مالوماتو په ترلاسه کولو کې مرسته وکړي.

- رسمي کاريالونه او ويب پاڼې:

هنډ بوک جرمني پښتو:
په دې ويب‌سايټ کې د جرمني په اړه بشپړ مالومات لوستلای شئ.
«جرمني هم د نورو هېوادونو په شان بېلې ځانګړنې لري او هغه کسان چې تازه جرمني ته راځي، شايي له ځينې خنډونو سره مخ شي. هنډ بوک جرمني تاسې ته په پښتو ژبه د دې په اړه مالومات درکوي چې په جرمني کې بايد د ژوند پيل څنګه وشي.
هنډبوک جرمني، له (الف) څخه تر (ي) پورې د جرمني د ژوند په اړه ستاسې پوښتنو ته ځواب وايي او ګڼې مالوماتي ويډيوګانې او مقالې د ژوند د مختلفو حالتونو په اړه ستاسې پوښتنې ځوابوي. په ويب سايټ کې د نورو مهمو ادارو بيروني لينکونه هم شته چې تاسې شايي اړتيا ورته ولرئ. د سيمه‌ييزو مالوماتو په مرسته په خپل شاوخوا کې د مهمو ادارو پتې او شمېرې موندلای شئ. ددې بنسټ د فيسبوک پر پاڼه هم تل تازه مالومات او يوټيوب چينل ټولې ويډيوګانې ترلاسه کولای شئ.»
د هنډ بوک جرمني له فيسبوک او يوټيوب سره مل شئ. دوی ته خپلې پوښتنې هم لېږلای شئ.
پښتو لينک دلته:
Website: https://handbookgermany.de/ps



دويچه‌وېلې (DW) پښتو:
جرمني ژبه له دويچه‌وېلې (DW) سره زده کړئ!
دويچه ويلې له ٦٠ کالو راهيسې د جرمني ژبې بېلابېل کورسونه وړاندې کوي. دغه دوه‌ژبيز کورسونه د ابتدائي زده‌کوونکو لپاره غوره ګڼل کيږي.
پر دې ويب‌سايټ د هر ډول زده کوونکو لپاره يو څه شته او هغه کسان چې غواړي د آفلاين کورسونو څخه ګټه واخلي، د کورس درسي مواد راښکته کولای شي.
Website:https://learngerman.dw.com/en/learn-german/s-9528

د جرمني زده کړې پيل:
ددې کارېال په ښکته کولو سره کولای شئ، د جرمني ژبې زده کړه، جرمني په پښتو له کوره پيل کړئ:

Website: https://bit.ly/3JV8OCh
App Store-Apple: https://apple.co/3tFfnTq
Play Store-Android: https://bit.ly/3D8Xujh

فيموس پښتو:
دا پروژه د جرمن مېشتو مهاجرو ښځو لپاره د کار بازار، ښوونې او روزنې سيستم ته د لاسرسي او د ټولنيز ادغام په اړه مشورې او مالومات ورکوي. پښتنو خويندو او مېندو سره يې شريکه کړئ، ترڅو په خپلې مورنۍ ژبه مالومات تر لاسه کړي. په ګوګل کې (Fem.OS, Minor Paschtu) ولټوئ.

SCAN



SCAN

Search په جرمني کې لومړی ورځې...

ټولنیز او غیر رسمي مالوماتي او زده کړیز کانالونه:

جرمن‌مېشتي افغانان:

جرمن‌مېشتي افغانان فېسبوک ګروپ، اړونده پاڼه او وټسپ ګروپ هم د مالوماتو ترلاسه کولو سرچینه ده. دا ګروپونه او پاڼې د رضاکارانو له لورې له دې کبله رامنځته شوي دي چې په جرمني کې مېشت افغانان په پښتو ژبه د مالوماتو له کمښت سره مخ دي او له دې کبله ډېر فرصتونه له لاسه ورکوي. په دې ګروپونو کې هڅه کېږي چې یو له بل سره د ژوند په بېلابېلو برخو کې مرسته وشي او اړین مالومات یو له بل سره شریک شي. د ګروپ غړي کولای شي خپلې پوښتنې ولیکي او یا هم د نورو پوښتنو ته ځوابونه ورکړي.
هم مالومات له نورو سره شریک او هم یې ترلاسه کړئ.

**Facebook group:**
**www.facebook.com/groups/afghanenindeutschland**
**Facebook page:**
**www.facebook.com/paschtunischerverein**




افغان جرمن اینفو:

پر افغان جرمن اینفو یوټیوب چینل، ویب‌سایټ، او ټولنیزو رسنیو اړوند پاڼو د جرمني لایسنس د تیوري پوښتنو لوستونه، اړین مالومات او نور موندلای شئ.

**Website: https://afghangerman-info.com**
**Youtube:**
**https://www.youtube.com/c/AfghanGermaninfoweb**
**facebook page:**
**https://www.facebook.com/AfghanGermaninfo**
**Facebook group:**
**https://www.facebook.com/groups/deutschfuerafghanen**
**tiktok:**
**https://www.tiktok.com/@afghan.german.info**
**Isntagram:**
**/https://www.instagram.com/afghan.german.info**



یادونه: دا لړ به د مجلې په نورو ګڼو کې بیا تازه کیږي. که تاسې هم د نورو بنسټونو یا پانو ورزیاتولو وړاندیز لرئ. له موږ سره یې شریک کړئ.





## جانداد جهاني

# ژبني مهارتونه په بريا کې څه رول لري؟

کله چې د ژبې په اړوند خبرې کېږي، شايد تر ټولو ساده، اسانه او لنډ تعريف چې موږ يې اورو دا وي، چې ژبه د افهام او تفهيم وسيله ده.

دا تعريف د ژبې په حق کې تر ډېره منصفانه نه دی، ځکه چې دا تعريف ډېر ساده دی او د ژبې مختلف اړخونه چې بايد بحث پرې وشي، له پامه غورځوي. کله چې موږ وايو ژبه د افهام او تفهيم وسيله ده، نو د ژبې او ژبنيو مهارتونه اهميت هم ورسره راکمېږي، د اوريدونکی ذهن ته دا نه ورځي چې ژبه له افهام و تفهيم ور ها خوا نور ډېر اړخونه هم په خپله غېږه کې لري د بيلګې په ډول د اړيکو او ارتباطاتو مهارتونه چې په هر سازمان کې له ځانګړي اهميت څخه برخمن دي، له ژبې سره تړاو لري.

ژبپوهنه چې د ژبې اړوند يو علمي او څېړنيز بحث دی او په پوهنتونو کې د يو مسلک په توګه تدريس کيږي، موږ متوجه کوي چې ژبه دومره هم بې ارزښته نه ده چې مازې د افهام او تفهيم وسيله دې وګڼل شي.

ژبه د يوې علمي حوضې تر څنګ يو مهارت هم دی. داسې مهارت که ورباندي برلاسی نه يې، نور مهارتونه دي په ښه توګه نشې ښکاره کولی.

په اوسنۍ نړۍ کې د زياترو سکټورونو له پوهې څخه هم زيات تمرکز په مهارتونو دی او ژبه خپله يو له مهمو مهارتونو څخه شميرل کېږي. د نړۍ د اقتصاد يوه ډېره برخه په ژبنيو مهارتونو ولاړه ده. په سازمانونو کې مشخصې او مهمې برخې لکه مفاهمه ( Communication) او ژباړه (Translation) هم ژبنيو مهارتونو پورې اړه لري چې د نړی په اقتصادي راکړو ورکړو کې يوه مشخصه برخه تشکيلوي.

د ژبنيو مهارتونو درلودل تاسې ته پر نورو خلکو برتري درکوي د بيلګې په ډول هغه سياستوال چې په فصيحه ژبه غږيږي له نورو څخه د خلکو ډېر خوښيږي او د بريا چانس يې هم زيات وي. هغه ژورنالېستان چې لوړ ژبني مهارتونه لري بريالي او غوره ګڼل کېږی. هغه سوداګر چې په ښه ډول خپله ژبه چلوي په خپل کاروبار کې تر نورو ډېر بريالي وي. هغه افراد چې په يوه نړيواله ژبه پوهېږي نسبت هغو ته چې نه پرې نه پوهېږي، کولای شي غوره فرصتونو ته لاسرسی ولري او خپلې موخې په ښه ډول تعقيب کړي.

همدارنګه په يوه نړيواله ژبه پوهيدونکي اشخاص نسبت نورو ته خپلې موخې په ښه ډول ټاکلی شي. د جرمني غوندي هيواد کې چې له سافټويرونو بيا د هارډويرونو او هرڅه نومونه، د استعمال لارښود او د کار او ارتباطاتو ژبه يې جرمني ده، لازمه ده د ژبې اړين مهارت په اړه يو ځل بيا فکر وشي او د لوړولو له ګټو يې خبر شو.






# ژبني مهارتونه په بریا کې څه ... ؟

### د الماني ژبې د مهارتونو لوړول له تاسو سره دا مرستې کولی شي:

**لومړی:**

د یو چاسره په ژبه پوهیدل ددې باعث کېږي چې تاسې خپل ځان په هغه ټولنه کې خپل حس کړئ او نور خلک هم تاسې خپل وګڼي. د بیلګې په ډول که افغانستان یو ځوک له پښتون مېشتې سیمې هغه سیمې ته ځي چېرته چې خلک په دري غږېږي، تر څو چې یې دري په ښه توګه زده کړې نه وي داسې حس کوي لکه خلکو چې خپل کړی نه وي یا دا چې له نورو سره ډېر مشترکات نه لري. دا ځکه چې د هغوی د خبرو په ضمني ماناګانو او د موضوع په کلتوري بګراونډ نه وي خبر، همدا وجه ده چې ټوکې ته نه خاندي، د هغوی جالبو کیسو کې ګډون نه کوي، دده خبرې چاته جالبې نه ښکاري نو ځکه ځان یو ډول پردی او بیګانه حس کوي. په لنډ ډول ددې لپاره چې موږ په ټولنه کې ځان خپل حس کړو او ټولنه هم موږ خپل وګڼي د هماغې ټولنې د ژبې زده کول یې غوره لار ده. په آلماني ژبه خبرې کول کولای شي له افغانانو سره په آلمان کې د ټولنیزو اړیکو په جوړولو کې په څو لارو مرسته وکړي. دلته یو څو مثالونه دي:



**اړیکې:** په آلماني ژبه خبرې کول کولی شي د آلمان له اتباعو سره د اړیکو او تفاهم اسانتیاوې برابرې کړي، کوم چې کولی شي د آلمان په ټولنه کې د لا زیاتو مثبتو اړیکو او ښه ادغام لامل شي. دا کیدای شي د ملګرو موندل، د ملاتړ شبکې موندل او د هغو خلکو سره د اړیکو ټینګول وي چې په آلمان کې د مهاجرینو سره د ورځني ژوند په تګ راتګ کې مرسته کولی شي.



**ټولنیز ګډون:** په آلماني ژبه خبرې کول میشتو افغانانو ته اجازه ورکوي چې په آلماني ټولنه کې په بشپړه توګه برخه واخلي. پدې کې د کلبونو یا ډلو سره یوځای کیدل، رضاکارانه کار کول او یا د ټولنې پیښو کې برخه اخیستل شامل دي. دا کولی شي له افغان کډوالو سره مرسته وکړي چې له نوي خلکو سره لیدنه وکړي او خپل نوي کور سره ډیر تړون احساس کړي.



**مسلکي شبکه جوړول:** په الماني خبرې کول د مهاجرو سره د مسلکي شبکو په جوړولو کې هم مرسته کولی شي کوم چې د دندې موندل، د مسلک پراختیا په اړه د مشورو ترلاسه کول او د نویو فرصتونو څخه خبراوی په کې شامل دي.

په ټولیز ډول، په آلماني ژبه خبرې کول مهاجرو ته د آلمان له اتباعو سره د تماس او ارتباط وړتیا برابرولای شي، چې له هغوی سره د ټولنیزو اړیکو په جوړولو، د خپل نوي کور په کلتور او دودونو د پوهیدلو او په آلماني ټولنه کې په بشپړه توګه برخه اخیستلو کې مرسته کوي. دا کیدای شي د آلمان په ټولنه کې د کامیابه ادغام په لور یو مهم ګام وي.

**کلتوري پوهه:**



په آلماني ژبه پوهیدل د مهاجرو سره د آلمان د کلتور او دودونو په ښه پوهیدو کې هم مرسته کولی شي، کوم چې کولی شي د دوی لپاره په آلمان کې ژوند ته همغږي ورکړي. پدې کې د آلمان په نورمونو او ارزښتونو پوهیدل او همدارنګه په کلتوري فعالیتونو او پیښو کې د ګډون وړتیا او علاقه مندي شامله ده.




## د الماني ژبې د مهارتونو لوړول له تاسو سره دا مرستې کولی شي:

دویم.

ژبه د پوهې او معلوماتو د لاس ته راوړلو او انتقال وسیله ده. د ژبنیو مهارتونو درلودل ستاسې د علمي ظرفیت لوړولو په برخه کې غوره فرصتونه د لاسرسي وړ ګرځوي. د بیلګې په ډول ستاسې انګلیسې چې خومره ښه او په لوړه سطحه وي، هغومره د نړۍ په معتبرو پوهنتونونو ستاسې د جذب امکان زیات دی. همداسې الماني ژبه کولای شي له میشتو افغانانو سره په آلمان کې زده کړو ته په لاسرسي او له فرصتونو څخه په استفادې کې مرسته وکړي.

### پوهنتونونو او روزنیزو پروګرامونو ته ورپیا لاسرسی:



په آلمان کې ډیری پوهنتونونه او مسلکي ښوونځي کورسونه او پروګرامونه وړاندې کوي چې په آلماني ژبه تدریس کیږي. اکثره دې پوهنتونو کې درسونه وړیا دي خو د ژبې سطحه یې یو له مهمو شرایطو شمیرل کیږی. په ژبه پوهیدل کولی شي میشتو افغانانو ته دا فرصت ورکړي چې دې پروګرامونو کې د نوم لیکنې لپاره ومنل شي او د لوړو زده کړو او روزنې له وړیا فرصتونو برخمن شي.

### ښه زده کړه:



په آلماني ژبه کې ښه وړتیا کولی شي د افغانانو لپاره د آلماني ژبې په پوهنتونونو کې د لیکچرونو لوستل او لیکل لا ډیر اسانه کړي، کوم چې کولی شي د غوره اکادمیک فعالیت او بریالیتوب لامل شي.

مسلکي تصدیق نامې: په آلمان کې ډیری مسلکي کورسونه د آلماني ژبې مهارت ته اړتیا لري، او په آلماني ژبه خبرې کول کولی شي د مهاجرو سره مرسته وکړي چې د دې سندونو د ترلاسه کولو لپاره په شرایطو ځان برابر کړي. دا چاره کولی شي د دوی د کار امکانات زیات کړي.

### د کار زده کړه او د کار فرصتونه:



ځینې شرکتونه او سازمانونه یوازې هغو کسانو ته چې په آلماني ژبه خبرې کوي انټرنشپ یا دندې وړاندې کوي، نو د آلماني ژبې مهارتونه کولی شي د مهاجرو لپاره د کاري تجربې د ترلاسه کولو او د دوی مهارتونو ته په وده ورکولو کې ډیره مرسته وکړي.

په ټولیز ډول، دجرمني ژبې لوړ مهارتونه کولی شي مهاجرو سره په آلمان کې د زده کړې او روزنې فرصتونو ته لاس رسي کې مرسته وکړي، کوم چې کولی شي په اوږد مهال کې د غوره کاري امکاناتو او د عاید امکانات زیات کړي. دا له دوی سره پوهنتون ته په داخلیدو، د مسلکي تصدیقونو او انټرنشپونو اړتیاوو پوره کولو کې هم مرسته کولی شي، کوم چې د آلمان په ټولنه کې د بریالي ادغام لپاره یو مهم ګام کیدی شي.

# ژبني مهارتونه په بريا کې څه ... ؟

## د الماني ژبې د مهارتونو لوړول له تاسو سره دا مرستې کولی شي:

**درېيم:**

د ژبنيو مهارتونو درلودل تاسې سره د غوره کاري فرصتونو په موندلو کې مرسته کوی. د بيلګې په ډول که تاسې په افغانستان له يو نړيوال سازمان سره کار کول وغواړئ، نو د انګليسي ژبې د مهارتونو درلودل ډېر اړين دي. يا که چېرته تاسې په اروپا کې اوسېږئ نو د کار موندلو مهم شرط په ژبه پوهيدل دي. څومره چې ستاسې ژبني مهارتونو لوړ وي، هغومره په اړونده برخه کې د غوره او پُردرامده کار موندل درته اسانه دي. په عين شکل په آلماني ژبه خبرې کول کولای شي د المان ميشتو افغانانو لپاره په څو لارو د کار فرصتونه پرانيزي.



**لوړ معاش لرونکې دندې:**

په آلماني ژبه پوهيدل کولی شي د لوړ معاش لرونکي دندې لپاره فرصتونه هم پرانيزي چې د ژبې قوي مهارتونو ته اړتيا لري. د مثال په توګه، د ژباړې، تفسير، او د پيرودونکو خدماتو دندې اکثرا په آلمان کې د ژبي لوړو مهارتونو ته اړتيا لري.




**باثباته کارموندنه:**

په آلماني ژبه خبرې کول کولی شي د مهاجرو سره د ثابت کار موندلو په برخه کې مرسته وکړي. د بيلګې په توګه، ډيری آلماني شرکتونه د زده کړې او روزنې پروګرامونه وړاندې کوي چې کولی شي د اوږدې مودې کارموندنې لامل شي. په آلماني ژبه خبرې کول کولی شي د مهاجرو لپاره دا آسانه کړي چې د دې پروګرامونو لپاره په شرايطو برابر شي او باثباته کار د ځان لپاره تضمين کړي.



**خدماتو ته لاس رسی:**

په آلمان کې اکثره خدمات په الماني ژبو دي، لکه عامه سکتور، روغتيا او ښوونه او روزنه. په آلماني ژبه خبرې کول کولای شي د دغو برخو د افغانانو ستونزې حل کړي. موږ ګورو اکثره وختونه هغه افغانان چې ډير وخت يې هم دلته تير کړی وي کله چې يې ډاکټر ته اړتيا وي ترجمان پسې ګرځي يا که خپله هم ډاکټر سره مخامخ وي نشي کولی پيچلي مسايل په روښانه توګه ورته تشريح کړي. همدارنګه دولتي ادارو پورې تړلو کارونو او شخصي تجارت کې هم د ژبني مهارتونو ټيټ والی د مشکلاتو د رامنځ ته کيدلو لامل کيږي.

په ټوليز ډول که ووايو؛ ژبه يو مهم مهارت دی او په المان کې د اوسيدونکو افغانانو لپاره يو شديده اړتيا ده. که چيرته المان کې ميشته افغانان د ژبي د مهارتونو ارتقا ته توجه وکړي او د خپلي الماني ژبې سطحه تر C1 يا حد اقل B2 پورې ورسوي، کولی شي په ټولنه کې ځان ځای کړي له له ښو تحصيلي او کاري فرصتونو څخه برخمن شي. د يادولو وړ دی چې د ژبې په زده کولو د وخت او پيسو لګول پانګونه ده چې تاسو ته ورسته د کار په بازار کې ښه حاصل درکولی شي.

# په جرمني کې ځینې عاجلې او مهمې ټلیفون شمېرې



| | | |
|---|---|---|
| ۱ | امبولانس او اوروژونکي (اطفائیه) | ۱۱۲ |
| ۲ | د پولیسو عاجله شمېره | ۱۱۰ |
| ۳ | د ډاکټرانو عاجله شمېره | ۱۱۶۱۱۷ |
| ۴ | د بانکي کارت یا اوسوایس ورکېدو پر مهال د بلاک لپاره | ۱۱۶۱۱۶ |
| ۵ | د مسمومېدو پر مهال عاجله شمېره | ۱۹۲۴۰ |
| ۶ | د بحراني حالت پر مهال اروايي مشوره | ۰۸۰۰۱۱۱۰۱۱۱ |
| ۷ | د والدینو لپاره د مرستې عاجله شمېره | ۰۸۰۰۱۱۱۰۵۵۰ |
| ۸ | د تاوتریخوالی پر مهال د ښځو لپاره عاجله شمېره | ۰۸۰۰۰۱۱۶۰۱۶ |
| ۹ | سمندر پر غاړه د عاجلې اړیکې لپاره | ۱۲۴۱۲۴ |

HILFE?

HAZOB.DE

کولای شئ دا پاڼه له مجلې بېله او په یوه داسې ځای کې راوځړوئ، چېرې چې هر څوک یې لیدلای شي.



## Der Hintergrund von HAZOB

Die Schaffung einer gemeinsamen Tribüne für die in Deutschland lebenden Afghanen wurde als ein großes Bedürfnis angesehen und es gab manchmal inoffizielle Diskussionen unter den Gründern darüber. Das erste offizielle Treffen fand am 1. September 2022 statt. Bei diesem Treffen wurden die Notwendigkeit, die Probleme und die Möglichkeiten der Einrichtung einer gemeinsamen Stelle für die Afghanen erörtert und es wurde beschlossen, dass eine solche Stelle eingerichtet wird, damit die Koordination zwischen den Afghanen mit Hilfe der Afghanen erfolgen kann. Dies könnte der afghanischen Diaspora helfen, ein aktives Mitglied der Gemeinschaft zu sein. Seitdem wurden fortlaufend Sitzungen abgehalten und Anstrengungen unternommen, um die Struktur, die Aktivitäten, die Abteilungen und die Einzelheiten der Förderung zu definieren.

**Was will die HAZOB tun?**

Deutschland ist eines der europäischen Länder, in denen seit langem Tausende von Afghanen leben, und im Jahr 2022 hat sich diese Zahl vergrößert und nimmt weiter zu, aber es gibt keine spezifische Adresse für Koordination und Einheit.

In vielen europäischen Ländern und insbesondere in Deutschland haben die Menschen anderer Länder kleine und große Gemeinschaften, um ihre Probleme und viele andere Themen zu lösen. Findet und bearbeitet sie. Aber leider haben auch die in Deutschland lebenden Afghanen, die mit mehr Problemen konfrontiert sind als andere Flüchtlinge, keine spezielle Adresse, und wenn es einen Versuch gab, eine solche einzurichten, war sie auf ein bestimmtes Bundesland beschränkt oder ging auch auf halbem Wege wieder verloren.

Deshalb sind die hier lebenden Afghanen, die mit irgendeinem Problem konfrontiert sind oder versuchen, es alleine zu lösen oder gezwungen sind, den Menschen anderer Länder eine helfende Hand zu reichen, leider oft mit negativen und manchmal sehr schmerzhaften Ergebnissen.

In Anbetracht all dieser Probleme, Bedürfnisse und Herausforderungen haben wir diesmal beschlossen, die hier lebenden Afghanen zu versammeln, eine einzige afghanische Adresse in Deutschland einzurichten und Afghanen zu helfen, die vor verschiedenen Problemen stehen.

Dieser Weg mag schwierig sein, aber wir werden versuchen, voranzukommen und unsere Fähigkeiten zu nutzen, um dieses große Ziel zu erreichen. Es ist offensichtlich, dass Ihre Zusammenarbeit in diesem Bereich für uns wichtig ist, und wir hoffen darauf; deshalb sind wir stolz darauf, unserem Volk zu helfen, und werden weiter voranzukommen.




Die gegenseitigen Beziehungen zwischen den in einer Gesellschaft lebenden Menschen und ihre Art bilden die Grundlage für die Stabilität und Einheit dieser Gesellschaft. Die Gemeinschaft der in Deutschland lebenden Afghanen ist von dieser Bedingung nicht ausgenommen, und die langfristige Stabilität kann anhand der Art dieser Beziehungen beurteilt werden.

Die Definition von Exil ist vielleicht nicht notwendig, aber für Exil-Afghanen scheint diese Definition ein wenig anders zu sein. Die Kriege der letzten Jahrzehnte haben viele Afghanen der Möglichkeit beraubt, mit ihren Hoffnungen in ihr Heimatland zurückzukehren und dort ein neues Leben zu beginnen. Das lange Exil hat vielen Menschen keine Zeit gelassen, sich ein stabiles Leben aufzubauen.

Obwohl es in Deutschland bereits spezielle Integrationsprogramme für Flüchtlinge gibt, dürfen wir nicht vergessen, dass viele Afghanen aufgrund ihrer besonderen Traditionen, Kultur, Eigenheiten und Probleme durch diese Integrationsprogramme nicht vollständig eingebürgert werden können. Auf der anderen Seite sind die gegenseitigen Beziehungen zwischen den in Deutschland lebenden Afghanen nicht so stark, wie sie sein sollten. Einer der Gründe dafür ist die Ankunft von Menschen mit unterschiedlichen politischen und ideologischen Ansichten zu verschiedenen Zeiten oder die Ankunftsdaten der Menschen, die nach Deutschland kommen und zwischen denen eine große Zeitspanne liegt.

Auf diese Weise blieb ein großer Teil der Afghanen von beiden Gemeinschaften getrennt, und ihre Bemühungen, sich zu vereinigen, fanden entweder nicht statt oder scheiterten. Die Gründe dafür müssen ausführlich erörtert werden.

Einige mögen argumentieren, dass die Integration der Afghanen in die Gesellschaft wichtiger ist als die zwischenmenschlichen Beziehungen. Das ist zum Teil richtig. Die Integration in die Gesellschaft ist wichtig, aber die Geschichte hat gezeigt, dass Minderheitengemeinschaften in einer anderen Nation, einer anderen Kultur, einer anderen Gesellschaft, einer anderen Sprache und einem anderen Land nicht in der Lage sind, ihre Identität, ihre Traditionen und ihre Sprache vollständig zu integrieren. Es braucht zwischenmenschliche Beziehungen, um als Wache aufrechtzuerhalten und zu erhalten. Ein weiterer Grund für die Aufrechterhaltung und Stärkung dieser Beziehungen ist die gegenseitige Unterstützung bei sozialen Problemen und Herausforderungen und der Abbau des Gefühls der Entfremdung. Auf diese Weise gibt es hunderte von anderen Gründen, die uns ermutigt oder gezwungen haben, eine solche Bewegung zu schaffen, durch die eine Brücke der Kommunikation zwischen in Deutschland lebenden Afghanen und einem gemeinsamen Medium, dem kulturellen und sozialen Bereich, geschaffen werden soll. Sie kann als Tribüne genutzt werden.

## Vorwort

Liebe Leser/innen,

wir freuen uns, Ihnen die erste Ausgabe des Paschtu-Magazins (HAZOB) für afghanische Flüchtlinge in Deutschland präsentieren zu können. Unser Ziel ist es, eine Brücke zwischen der afghanischen Flüchtlingsgemeinschaft und der deutschen Gemeinschaft durch den Austausch von Ideen und Verständnis zu bauen. Da die Zahl der afghanischen Flüchtlinge in Deutschland weiter wächst, ist es wichtig, ihnen Ressourcen und Möglichkeiten zur Verfügung zu stellen, um ihre Integration in die Gesellschaft zu erleichtern. Afghanische Flüchtlinge in Deutschland sehen sich oft mit Herausforderungen wie Sprachbarrieren und kulturellen Unterschieden konfrontiert und können sich ohne Zugang zu Büchern in ihrer eigenen Sprache isoliert fühlen. Dieses Magazin soll diesen Menschen eine wertvolle Quelle der nationalen Verbindung, Information und Kommunikation bieten, indem es ihnen hilft, ihr neues Heimatland, ihre Kultur und Gesellschaft besser zu verstehen und sich mit ihrer eigenen Kultur und Gesellschaft zu verbinden.

Die physische Präsenz einer gedruckten Zeitschrift, insbesondere einer in Deutschland in paschtunischer Sprache herausgegebenen, ist für afghanische Flüchtlinge von besonderer Bedeutung. Viele afghanische Flüchtlinge in Deutschland stehen vor dem großen Problem, dass es an Büchern in Paschtu mangelt, und dieser Mangel ist für gebildete Afghanen besonders schwer. Durch die Bereitstellung eines Magazins in ihrer eigenen Sprache, mit vertrauten Worten und Geschichten, können sie daher ein Gefühl der Verbundenheit und Erinnerungen verspüren.

Das Magazin wird in regelmäßigen Abständen erscheinen und in jeder Ausgabe verschiedene Themen dem Leben der afghanischen Flüchtlinge in Deutschland behandeln. Das Magazin wird eine Mischung aus Artikeln, Interviews, informativen Kapiteln und Rezensionen enthalten, die verschiedene Aspekte des Lebens afghanischer Flüchtlinge in Deutschland sowie kulturelle und soziale Praktiken beleuchten.

Für afghanische Flüchtlinge ist es wichtig, in ihrer eigenen Sprache zu lesen und ihre Kultur und Herkunft zu verstehen, damit sie sich in ihrer neuen Heimat nicht fremd fühlen und sich nicht völlig von ihrer Herkunft abkoppeln. Daher werden alle Inhalte dieses Magazins in Paschtu und einige in deutscher Sprache veröffentlicht, um sicherzustellen, dass angesichts der Sprachkenntnisse der afghanischen Flüchtlinge viele Menschen davon profitieren können.

Das Hazob-Magazin wird auch Themen enthalten, die die Deutschkenntnisse afghanischer Flüchtlinge verbessern und ihnen helfen, sich im täglichen Leben in Deutschland zurechtzufinden. Indem wir erfolgreiche afghanische Flüchtlinge in Deutschland porträtieren und ihre Geschichten vorstellen, kann das Magazin als Inspirationsquelle dienen und die Integration in die Gesellschaft fördern.

Wir möchten den in Deutschland lebenden afghanischen Flüchtlingen eine Stimme geben, indem wir dieses Magazin herausgeben und es als Plattform für die gegenseitige Abstimmung nutzen. Wir ermutigen alle Leser, uns ihre Meinungen und Vorschläge mitzuteilen.

Es sei darauf hingewiesen, dass die Herausgabe des Magazins ehrenamtlich erfolgt und die Redakteure mit keinerlei materiellen Privilegien oder politischen Organisationen verbunden sind. Der Erlös aus dem sehr niedrigen Preis des Magazins wird für den Druck der nächsten Ausgabe verwendet. Mehr über die anderen Initiativen und Bemühungen von Hazob können Sie auf der Hazob-Website (hazob.de) lesen.

Wir wünschen Ihnen Glück und Wohlstand.

zeitschrift

# HAZOB

Sozial- und Kulturmagazin

**Erstauflage**

**Februar 2023**

impressum

Herausgeber: **Hazob (Gelenkstift der Veränderung und Verbindung)**

Chefredakteur: **Mahmood Saeed**

stellvertretender Redakteur: **Mojeeburahman Ehsas**

Redakteur: **Qarib Rahman Shahab**

Design und Gestaltung: **Khanagha Noori**

Fotograf: **Mohammad Imran**

**Redaktion:**

Alam Gul Sahar, Mojeeburahman Ehsas, Moheb Zgham, Shabir Salimi, Ajmal Torman, Zyaar Khan Noori, Naseer Ahmad Andyal, Qarib Rahman Shahab, Mohammad Asem Mayar, Jandad Jahani

SCAN ME

**E-Mail:**

info@hazob.de

**Internet:**

www.hazob.de

**Address:**

Berlin, Deutschland

zeitschrift

# HAZOB

Sozial- und Kulturmagazin




**HAZOB ist eine verlässliche Einrichtung der afghanischen Gemeinschaft in Deutschland, die unsere Menschen miteinander verbindet.**

1

info@hazob.de
magazine@hazob.de
www.hazod.de